دافغانستان اسلامي جمهوريت

دلــــــوړوزده کړووزارت
دننـــــګرهـــار پوهنتون
دانجيـــــنرۍ پـــــوهنځی



# دډيپلوم کتاب

Ketabton.com

آجــــراء کوونکي: نورالرحمن سهاک اونجيب الله

لاربنـــــود استاد:ډيپلوم انجينر شريف الله شيرزاد

دديپــــارتمنت آمر: دوکتورصاحب عبيدالله رحمتي

کـــــــال: 1389 هجري لمريز

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# موضوع:

# دبدخشان په ولايت کي دکشم څخه تـــرفيـــض آباد پوري دسرک دآته کيـــــلومتره برخي طرح اوډيزاين

آجراء کوونکي: نورالرحمن سهاک او نجيب الله
لارښـــــوداستاد:ډيپلوم انجينرشريف الله شيرزاد
دډيـــپـــارټـمنـټ آمر: دوکتورعبيدالله رحمتي

کـــــال: 1389 هجري لمريز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

موضوع: صفحه

مقدمه.........................................................
1. هایدرولوجي مطالعات او عمومي معلومات...............
2. دسرکونوپلان کول.............................................
3. دسرک سروی اودمسیرتعینول...............................
4. دآرتجاعي سرکونوډیزاین.....................................
5. دسرک دهندسي آجزاووډیزاین...............................
6. دسرک داوبوویستل.............................................
7. دسرک ساختماني مواد.........................................
8. دسرک جوړولوطریقی...........................................
9. دسرک جوړولوساختماني ماشینونه........................
10.دسرک آمني تخنیک.............................................
11.دسرک دکاري پروسوتکنالوژي...............................
12.دسرک برآوردي محاسبات.....................................

کــــــال: 1389 هجري لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی برخه

# عمومي او هايدرولوجي معلومات

# General and Hydrological Information


آجراء کوونکي: نورالرحمن سهاک او نجيب الله

لاربنـــــوداستاد: ډيپلوم انجينرشريف الله شيرزاد

دډيـــپـــارتـمنـت آمر: دوکتور عبيدالله رحمتي


کــــــال: 1389 هجري لمريز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه:

دا چې د ننګرهار پوهنتون د انجنیرۍ پوهنځی د سیول ډیپارټمنټ د معمول سره سم هر کال د نوموړې څانګې آخري یعنې لسم سمستر د پرکټیک د دورې یا عملي کارونو سمستر وي چې د عملي کارونو د اجراء څخه وروسته هر محصل ته په ځانګړي ډول د ډیپلوم د دفاع پروژه سپارل کیږي، چې په نوموړو پروژو کې د مختلف ډول ساختمانونو طرح او ډیزاین، د خاورین، کانکریټي او آسپنیز کانکریټي بندونو طرح او ډیزاین او همدارنګه د سړک طرح او ډیزاین شامل وي.

په همدغه لړ کې ماته هم د بدخشان په ولایت کې د کشم ولسوالۍ څخه ترفیض آباد پورې د سړک د (8) کیلومترو برخې طرح او ډیزاین راسپارل شوی دی.

د ټولو پروګرامونو مطابق ما نوموړې پروژه په دوه برخو کې ترسره کړې. چې لومړۍ برخې تشریحي ورقې دي چې په هغه کې د نوموړې پروژې په هکله معلومات، د سړکونو په اړه عمومي معلومات، د سړکونو تاریخي تکامل، اقسام، د ساحې هایدرولوژي معلومات، د هغه ساختمانونو ډیزاین چې په

لومړي پروژه کې شامل دي، د تخنيکي چارو او د هغه ساختماني
ماشينونو په باره کې معلومات د سړک په پروژو کې تر ټولو اعظمي
ګټه اخستل کيږي، د سړک ډيزاين، تکنالوژي او بې خطره
تخنيک په باره کې معلومات او همدارنګه په اخر کې د لومړي
سړک مالي او براوردي محاسبات، اجراء او ښودل شويدي.
د پروژې دوهمه برخه ګرافيکي لاستونه دي چې په هغه کې د
سړک مختلفې برخې لکه: هندسي اجزاوي (افقي ګولايي او په
هغه کې سوپر ايليويشن، عمودي ګولايي او په هغه کې طولاني ميل)
د سړک ساختمانونه (استنادي ديوال، محافظوي ديوال،
پُل، پلچک، کازوې او نور....)، د سړک ساحوي پلان، د سړک
تکنالوژيکي پروسې، د کار ډيرو منظم ګراف او جنتري پلان،
او داسې نور شيان ښودل کيږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا یو څرګند حقیقت دی چې د سړکونو موجودیت د یوه هیواد په

سیاسي، اقتصادي، اجتماعي، کلتوري او نورو پرمختګونو کې

ځانګړی او ټاکونکی رول لري.

د نړۍ په اکثره هیوادونو کې انتقالات د دریو ډوله لارو په

واسطه صورت نیسي چې نوموړي لارې عبارت دي له:

① هوائي لارې: (چې انتقالات یې د هوا له لارې صورت نیسي).

② بحري لارې: (چې انتقالات یې د اوبو له لارې صورت نیسي).

③ ځمکنۍ لارې:-

زموږ موضوع ځمکنۍ لارې دي چې ځمکنۍ لارې د نورو لارو په

نسبت بهترې او مؤثرې دي. ځکه چې ټول تولیدات که صنعتي وي

او یا تجارتي د هغوی انتقالات د یو ځای څخه بل ځای ته په نږدې

او نسبتاً لیرې فاصلو د ځمکنیو لارو په واسطه صورت نیسي.

په یو هیواد کې د انتقالاتو د یو ښه سیستم موجودیت نه یوازې

د هغه هیواد اقتصادي او صنعتي چارې پرمخ بیایي بلکه زراعتي،

تجارتي او همدارنګه په نظامي ساحو کې خصوصاً د سرحداتو په ساتنه

کې د ښه سړکونو موجودیت ډېر اهمیت ورکوي.

دا چې سړکونه د بشر د ژوندانه په ټولو اړخونو کې ډېر مهم-

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول لري او د ښه ژوند کولو یوه مهمه وسیله ده نو باید په فني ډول طرح او ډیزاین شي. او بیا د هغې ساتنه او مراقبت په صحیح او درست ډول صورت ونیسي.

افغانستان چې څلورو خواوو ته په وچه احاطه شوی هیواد دی او بحري لاره نه لري نو د سړکونو د یو ښه سیستم موجودیت ته یې ضرورت احساسیږي. مګر متأسفانه چې زموږ په هیواد کې د پاخه سړکونو نه موجودیت د کلیو او ښارونو ترمنځ مناسبات کمزوري او فاصلې ډیرې کړې دي. زراعتي پیداوار چې د کلیو او اطرافو له عمده محصولاتو او تولیداتو څخه دي په ډیره ستونزمنه توګه ښارونو ته انتقالیږي او یا هم په لاره کې د ضایع کیدو له امله ښارونو ته نه رسیږي. چې دا د یو هیواد په اقتصاد باندې د منفي تأثیر لرونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سړکونو اهمیت :- Importance of Transportation

سړکونه چې د یو هیواد اقتصادي پرمختګ، صنعتي کېدو، فرهنګي او کلتوري ودې او پراختیا او همدارنګه د تولیداتو لکه خوراکي مواد، صنعتي تولیدات، زراعتي تولیدات، طبي تولیدات او نورو د انتقال او د هغوی د وېشلو په پروسه کې اساسي رول لري.

د تولیداتو د تولید په وخت کې د خامو موادو لکه تخمونه، پنبه، ګیني او همدارنګه اوسپنې، سکاره او صنعتي موادو لېږد او د — تولیداتو لېږد د مارکیټ ته سړکونو ته ضرورت لري.

د نامناسب Transportation موجودیت د یو هیواد په فرهنګي او اقتصادي پراختیا کې د یو خنډ په حیث عمل کوي. او همدارنګه د مناسب Transportation موجودیت د یو هیواد د فرهنګي او اقتصادي پرمختګ ښکارندوی دی.

### د ترانسپورتیشن فرهنګي اثرات :-

داسې ویل کېږي چې د یو مملکت ترقي د سړکونو خط تعقیبوي، څوابه انسانانو د سیندونو او سړکونو سره نژدې ابادي کوله همګوره اوس ګورو چې ټول لوی ښارونه د سیندونو او لویو سړکونو پر غاړه پراته دي.

## د سړک د موقعیت تعینول : Location of Roads

سړکونه نظر د هغوی مرکزي خط ته موقعیت ورکول کیږي، په کوم ځای کې چې مرکزي خط قرار ولري هغه د سړک د اصلي موقعیت په نوم یادیږي.

د سړکونو د موقعیت ورکولو لپاره باید لاندې نقاط په نظر کې ونیول شي :-

① سړکونه باید مستقیم مسیر ولري.

② کوشش باید وشي چې سړکونه اصغري میلان ولري، ځکه زیات میلان د ترافیکو لپاره د خطر باعث ګرځي.

③ د سړک د موقعیت په تعین کې باید د پرکارۍ او کندنکارۍ اندازه په اصغري حدودو کې وي.

## د سړک د ډیزاین اساسات Foundementals of Road Design:

د نړۍ ټول سړکونه په بین المللي او علمي ستنډرډونو سره ډیزاین کیږي. د سړک د ډیزاین اهمیت نظر د ترافیکو حجم او د منطقې جیولوژیکي شرائطو ته تغییر کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سړک جوړولو د انجنیرۍ موضوعات :-

## Scope of Highway Engineering:-

① Development, Planing and location:

Horizontal Background, Basis for Planing, Master Plan, Location Survey, Selection of Alignment.

② High way Design: Geometric & Structure:

Road's Geometric and their Design, Regid and flexible pavement, Design factors and methods.

③ Traffic performance and its Control:

د ترافیکو سروې د هغوی د ډیزاین لپاره ( ADT )، ورځنی اوسط ترافیک Average Daily Traffic. د سړک د متقاطعو برخو (Inter Section Design) او د هغوی کنټرول د علامو او ترافیکي اشارو په واسطه.

④ Construction Materials:

د سړک لپاره ساختماني مواد او د هغوی Mix Design، د سړک جوړولو نوع انتخاب لکه خاورین، Bitumin، Concrete او نور، او هم د سړک مراقبت او د سړک څخه د اوبو د ویستلو ساختمانونه..

(c) ketabton.com: The Digital Library

⑤ Economics, Finance and Administration:-

د سړک د اقتصادي مصارفو تجزیه او اندازه او همدا د پیسو
او فنډ لاس ته راوړل او د مناسب مصرف اداره کول.

د سړکونو تاریخي تکامل :-

Historical Development of Road Construction:-

د تګ او راتګ د ټولو نه لومړنی ډول په پښو سره وه او حیوانات
هم د انسانانو او موادو د انتقال لپاره استعمالیدل. وروسته
بیا د عادي د حیواناتو ګاډي را منځ ته شول او بیا په ختګ کې وکم
ترڅو دې ګاډو لپاره د یوې سختې سطحې ضرورت احساس شو چې
فکر کیږي داسې سخته سطحه په Mesopotamia کې
په 3500 BC کې موجوده وه.

د ټولو نه لومړی سړک په Assyrian Empire امپراطورۍ
کې موجود وو چې 1900 BC کې جوړ شوی وو. د رومي امپراطورۍ
په منځ ته راتګ سره سړکونه په پراخه پیمانه جوړ شول چې د
Roman Roads په نامه یادیدل. رومیانو د سړکونو پراخه
سیستم جوړ کړ چې د عسکري هدفونو لپاره یې ترې استفاده
کوله. نو پدې اساس رومیان ترټولو لومړني خلک دي چې سړکونه یې جوړ کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځواني سرکونه ډول

① Roman Roads.

② Tresaquet Roads.

د Pierre Tresaquet په واسطه په اصلاح شوي بڼه پوخه
پرمختللي سړک په فرانسه کې په کال (1716÷1796) کې رامنځ ته شو.

③ Metcalf Roads.

د John Metcalf په واسطه په 1710÷1810 پورې په انګلستان
کې ځینې سړکونه رامنځ ته شو.

④ Telford Roads.

د Thomas Telford په (1757÷1834) پورې چې په
لندن کې د سیول انجینري مؤسس وه د اډول سړکونه رامنځ ته کړل.

⑤ Macadam Roads.

د John Macadam په (1756÷1836) کې په مکمل ډول
د سړک جوړولو ډولونو میتود رامنځ ته کړ چې دا د سړکونو د بهتر
والي لپاره د ټوټو ټوټو لومړني پرمختګ وه.

د Macadam سړک د ټوټو ټوټو پرمختللی وه. نو ځکه -
زیاتره هیوادونو دغه میتود په لږ څه تغییر سره ځل کړ.

د Macadam سرکونو یوه نوعه د Water Bound -

Macadam اوس هم د استعمال وړ ده چې د مستحکم S.G

(Sub Grade) په لرلو سره د درنو وبارونو د بیرداشت -

ظرفیت لري. د WBM سړک ډیر مستحکم سړک فرض

شوی وه ترڅو چې تیز حرکت کوونکي موټر را منځ ته شول او د

دوړو او خاورو د را منځ ته کیدو باعث شول او هم د باران په وخت

کې د خټو د را منځ ته کیدو باعث کیدل چې د دغه نواقصو د رفع کولو

په خاطر Bituminous WBM Roads را منځ ته شول، همدارنګه د

Asphalt sheet، Cement Concrete، Bituminous Mixes

او Bituminous Concrete د سړکونو د Surface layer

په برخه کې استعمال شول.

د سړک ډولونه :-

## Road Classification:

سړکونه د نظر لاندې عواملو ته طبقه بندي کیږي :-

① د نظر د ترافیکو حجم ته :-

Ⓐ کم ترافیک لرونکي سړکونه :- چې د عراده جاتو تعداد

يې په یوه ورځ کې 400 Vehical/day وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Ⓑ متوسط ترافیک لرونکي سړکونه:- دغه ډول سړکونه چې د عرادو جاتو تعداد یې (400÷1000) $\frac{vehical}{day}$ وي.

Ⓒ زیات ترافیک لرونکي سړکونه:- دغه ډول سړکونه چې د عرادو جاتو تعداد یې (1000÷5000) $\frac{vehical}{day}$ وي.

د انتقالیدونکي وزن (Load) په اساس سړکونه په class I او class II باندې ویشل شوي دي.

د موقعیت او وظیفې له مخې سړکونه لاندې ډولونه لري:-

1. National High ways (NH).
2. State High ways (SH).
3. Major District Highways (MDR).
4. Other District Highways (ODR).
5. Village Rods (VR).

د سړکونو نوعیت د وسایطو د حرکت د سمت له مخې:-

Ⓐ دوه طرفه سړکونه:- Two way Roads

Ⓑ دوه طرفه څو لینه سړکونه:- Multilane Two way Roads

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سرک نوعیت نظر د خطوطو تعداد ته :-

Ⓐ یو لینه سرک :- ONE lane Roads

Ⓑ دوه لینه سرکونه :- Two lane Roads

Ⓒ دری لینه سرکونه :- Three lane Roads

Ⓓ څو لینه سرکونه :- Multy lane Roads

د سرک نوعیت نظر د ساحې حالت ته :-

Ⓐ د هموارې ساحې سرکونه .

Ⓑ د غرنۍ ساحې سرکونه .

سرک :- ROAD

د هغه افقي ساختمان څخه عبارت دی چې عراده جات او اشخاص په هغه د تللو قانوني حق ولري او یا په بل عبارت د هغه انجینري ساختمان څخه عبارت دی چې د خلکو ، موادو او عراده جاتو د انتقال لپاره یوې منطقې څخه بلې ته اعمار یږي . د وسایطو د تګ او راتګ تعداد ته په سرک باندې ترافیکي حجم ویل کیږي .

اساسي تعریفونه :- Basic Definations

① Carriage Way :- د سرک د هغې شوې برخې څخه عبارت دی چې وسایط او عراده جات په هغه حرکت کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

② د سړک اوږدي :- Shoulders of Road

په سړکونو کې د Carriage Way د دواړو خواوو ته په یوه معینه
اندازه د $(1.25 \div 3)_m$ پورې د Carriage Way د حفاظت او
د موټرونو د دریدلو او ترمیم لپاره په نظر کې نیول کیږي .

③ د سړک حدودات :- Right of Way

د سړک د مسیر لپاره د دواړو خواوو ته د ځمکو یوه برخه په نظر کې نیول
کیږي چې په هغه کې د سړک عرض ، اوږدي ، پیاده رو ، د اوبو تللو سیستم
ونې او اضافي ځمکه د سړک د وروسته انکشاف لپاره شامله وي .

④ د سړک ظرفیت :- Road Capacity

د سړک ظرفیت عبارت دی د ترافیکو د اعظمي مجاز مقدار څخه چې د سړک
د پاسه په یو ساعت کې د سړک ظرفیت د ارتګه محاسبه کیږي چې
ترافیک پکې بغیر د توقف څخه حرکت وکړي .

د سړک ظرفیت د سړک د عرض په تعین ، د سړک د لینونو د
تعداد کې او د ګولائیانو د شعاع په تعین کې مهم رول لري .

⑤ د سړک میلان :- Road Gradiant

د سړک د طولاني میل څخه عبارت ده چې د اډاني د نوعیت ، د سړک
د موقعیت او د ترافیکو په نوعیت پورې اړه لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پېروزي په اړه عمومي او هايدرولوژي مطالعات :-

بدخشان يو د افغانستان د شمال شرق د لېرو پرتو ولايتونو څخه شمېرل کيږي. دغه ولايت کې (28) ولسوالۍ لري او د ډېرې سيمو خلک يې د ډېرو کمزورو او زحمتو لو سره لاس او گريوان دي.

په ټوله نړۍ کې د زلزلې درې کمربندونه وجود لري. چې هيڅ زلزله له دغه درې کمربندونو څخه خارج نه وي.

① د بحر الکاهل يا آرام سمندر کمربند: د ټولې نړۍ 80% زلزلې په نوموړي کمربند کې رامنځ ته کيږي.

② د مديترانې کمربند: نوموړی کمربند هم نسبتاً کمې زلزلې يعنې د نړۍ 15% زلزلې په دغه کمربند کې رامنځ ته کيږي.

③ د اوقيانوس اطلس کمربند: په نوموړي کمربند کې ډېرې کمې زلزلې يعنې د نړۍ 5% زلزلې په دغه کمربند کې رامنځ ته کيږي.

افغانستان يو غرنی هېواد دی د مديترانې په کمربند کې واقع، چې د افغانستان د بدخشان ولايت نوموړي کمربند ته ډېر نژدې موقعيت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدخشان یې یو بل ولایت دی، د سړکونو او لارو د یو ښه
سیسټم نه موجودیت د نورو ولایت اسونګن د ډیرو ستونزو
سره لاس او ګریوان ګرځېدلی. حتی د ژمي په موسم کې د
ډیرو واورو د اورښت له امله په اوونیو او حتی په میاشتو هم
ځینو منطقو ته لاره بنده وي. د دغو ټولو ستونزو په نظر کې
نیولو سره د افغانستان حکومت او خارجي مؤسسات کوښښ
کوي چې د عصري سیمو ته سړکونه جوړ کړي. په دغه منطقه
کې د کشم د ولسوالۍ څخه تر فیض اباد پورې یو سړک چې
103Km طول لري د افغان حکومت لخوا د یوې خارجي مؤسسې
په کومک اعماریږي.

د اوږې زمونږ لپاره په دغه محدوده موده کې د ټولې پروژې
طرح او ډیزاین ممکن نه دی. نو په همدې اساس ما ته هم
د همدې پروژې یوه برخه چې (8Km) طول لري د هغې
طرح او ډیزاین او همدارنګه د هغه ساختمانونو طرح او ډیزاین
چې د پروژې په دغه برخه کې قرار لري د هغې طرح او ډیزاین
راکړل شویدي.

دکشم، فیض آباد پروژه چې دکشم ولسوالۍ څخه شروع

او تر فیض آباد ښار پورې اوږده پرته ده 103Km طول لري

چې یو طرف ته یې غرونه او ناهمواري غونډۍ او بل طرف ته یې

دکوکچې سیند موقعیت لري.

(دکوکچې سیند چې د افغانستان په شمال ختیځ کې موقعیت

لري. د آمو سیند د مرستیالانو د جملې څخه دی. د هندوکش

د غرونو څخه سرچینه نیسي چې په ځینې مسیر کې د فیض آباد د

ښار څخه تیریږي او د پل بیګم په سیمه کې د کشم د سیند سره

یوځای کیږي او پر مخ ځي. د کوکچې سیند په ټوله نړۍ کې د

زمردو د لاجوردو له امله یو د ډیرو مشهورو سیندونو له جملې

څخه دی. نور مهم سیندونه د هندوکش د غرونو د یخچالونو او داغ

د سیمو څخه سرچینه اخلي).

دکشم، فیض آباد سړک د ځینې مسیر په دواړو طرفونو

باندې شپږ، ویشت (26) واړه او لوی کلي لري چې په تقریبي

ډول پدغه ټولو قریو کې یعنې سړک ته نژدې قریو کې —

(105390) تنه ژوند کوي. د نوموړو کلو او کلیوالست په بلخ

کې واقع شوي دي.

E=70 6' 15" N=36 48' 23"

(c) ketabton.com: The Digital Library

| List of Villages with Locations, Names and Population | | | | |
|---|---|---|---|---|
| S/N | Location | Name of Village | Population | Remarks |
| 1 | 0+000 to 1+000 | Kishim Bazar | 16000 | |
| 2 | 1+000 to 2+000 RHS | Farghanjani | 3200 | |
| 3 | 1+000 to 2+000 LHS | Syah Qishlaq | 800 | |
| 4 | 2+000 to 3+000 | Baloche Bala | 1600 | |
| 5 | 3+000 to 6+000 | BalochePayan | 1200 | |
| 6 | 6+000 to 7+000 | Baloche Markazi | 1600 | |
| 7 | 7+000 to 11+000 | Baloche Taijaree | 4000 | |
| 8 | 11+000 to 13+000 | Gombaz | 8000 | |
| 9 | 28+000 | Qalai Zafar | 280 | |
| 10 | 38+640 | Atan Jelaw | 490 | |
| 11 | 47+900 | Qochi | 1400 | |
| 12 | 53+300 | ;ubzi Bahar Naw Abac | 1800 | |
| 13 | 54+900 | Subzi Bahar | 1200 | |
| 14 | 56+500 | Taqoli | 420 | |
| 15 | 58+500 | Qara Qamar | 1000 | |
| 16 | 64+500 | Kozar | 1000 | |
| 17 | 70+500 | Kakan | 4000 | |
| 18 | 73+000 | Ashkashan Ashan | 1300 | |
| 19 | 79+000 | Samadi | 2000 | |
| 20 | 83+000 | Halqa Jar | 600 | |
| 21 | 85+000 | Etar Chi | 1500 | |
| 22 | 88+500 | Qra Qozi | 800 | |
| 23 | 90+500 | Jeta | 700 | |
| 24 | 91+000 | Abesti | 500 | |
| 25 | 95+600 | Kori | 5000 | |
| 26 | 98+000 to 102+580 | Faiz Abad | 45000 | |
| | Total of Populations: | | 105390 | |

دکليواونفوسو هغه شميره چي دلته ښودل شويده يواځي هغه کلي اونفردي
چي دسرک دواړوطرفونو ته پراته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته دنورو موړی پروژې د کوزو بلوچانو د سیمې څخه تر گومبزی قلعه پورې د (8) کیلو مترو طرح او ډیزاین داکړل شوی یده.

د نورو موړي سرک د جوړولو لپاره دري ډوله ډیزاینونه تر سره کیږي.

① Geometric Design : چې په نوموړي ډیزاین کې د سرک ټولې هندسي أجزاوي لکه: أفقي گولائي، عمودي گولائي، کمبر یعنې عرضي میل، طولي میل او نور ډیزاین کیږي.

② Structure Design : په نوموړي ډیزاین کې هغه ساختمانونه ډیزاین کیږي چې د سرک په مسیر کې موقیت ولري لکه: پُل، پلچک، واش یعنې کاذوی، استنادي دیوال، محافظوي دیوال او همدارنګه د سرک د بدنې ډیزاین هم تر سره کیږي.

③ Mix Design : په نوموړي ډیزاین کې په سرک کې د استعمالیدونکو موادو لپاره Mix Design تر سره کیږي. یعنې چې کوم ساختماني مواد په کومه فیصدۍ او کوم مقدار سره استعمال شي. او همدارنګه ساختماني مواد او ساختمانونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دیزاین او Specification مطابق برابرول هم پدغه
برخه کې ترسره کیږي .

د سړکونو د دیزاین لپاره د نړۍ د مختلفو سټنډردونو
او مشخصاتو څخه کار اخستل کیږي، چې د یو شمیر یې په لاندې ډول دي.

1. AASHTO : American Assocciation of States, Highways & Transportation Offecials.
2. ASTM : American Society of Testing Materials.
3. FP-03 : Fedival Highway Projects.
4. IS : Indian Standards.

او همدارنګه یو مقدار نور کوډونه او سټنډردونه چې
د نړۍ په مختلفو هیوادونو کې تري استفاده کیږي د
سړکونو د دیزاین لپاره استعمالیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدخشان چې بود افغانستان د هغه ولایتونو څخه شمیرل کېږي
چې اکثره ساحې یې ناهمواري دي او هم ډیرې غرنۍ ساحې لري. چې د دغه
پروژه هم په یوه غرنۍ ساحه کې ده. چې لومړي 14 کیلو مترونه یې
په هموارو ساحو او د (14+000÷84+000) یعنې 70 کیلو مترونه
یې ابتدائي غرونه او غونډۍ دي. او همدارنګه وروستي 20
کیلو مترونه یې یعنې د 84+000 نه تر اخره پوري بیا نسبتاً هموارې
ساحې دي.

د Existing Road لپاره طولي میل د 2%÷15% پوري وه.
او همدارنګه لوړه نقطه چې د بحر د سطحې څخه (4122m) متره
ارتفاع لري په 28+840 کیلو متری یعنې د قلعه ظفر په کلي کې
موقعیت لري او همدارنګه ټیټه یې چې د بحر د سطحې څخه 640m
متره ارتفاع لري په 15+600 کیلو متری یعنې د ګومبزي قلعه
په سیمه کې موقعیت لري.

د چې د ایوه غرنۍ ساحه ده لوړ بارانونو او واورو په موسم کې
د زیاتو سیلابونو او د اوبو د راوتلو سبب ګرځي چې لوموړی اوبه
سرک کراس کوي او د کوچنی سیند ته توییږي. لوړ سرک په
مسیر کې ډیرو زیاتو پلونو، پلچکونو او نورو ساختمانونو ته ضرورت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اقلیم او آب وهوا:

د غځه سیمه بارانی او نسبتاً کم بارانی اقلیم لري چې د حرارت درجې تفاوت یې ډیر زیات دی. څکه چې د اوړي په موسم کې لوړه درجه تر 54C° او همدارنګه د ژمي په موسم کې ټیټه درجه تر -24C° درجې پورې ثبت شویده. په غځه سیمه کې د June څخه تر September پورې وچ موسم او همدارنګه د October څخه تر April پورې د اورو د کیدو امکان موجود دی.

په غځه سیمه کې د اورښت اندازه په منځني ډول په December څخه تر May پورې 27.98mm ده. او همدارنګه په منځني ډول د اورو وریدو اندازه د February څخه تر June پورې 220mm ریکارډ شویده.

د باد سرعت په غځه سیمه کې په منځني ډول د 4-20 mps پورې ریکارډ شویدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Design Concept for Bridges and other Drainages Structures.

د ساحې د ناهموارولي او همدارنګه د زیاتو بارانونو له وجې د زیاتو Waterways د موجودیت له امله پدغه پروژه کې (22) پلونه، (600) پلچکونه او همدارنګه 33800 m متره Road way سنګکاري او همدارنګه Lined Ditch او Earth Ditch موجود دي. یاده دې وي چې په پلچکونو کې او سپینز کانکریټي بکس پوله، Stone Masonry Slab، او سپینز کانکریټي پایپ او همدارنګه سټیل پایپونه شامل دي. پدغه پروژه کې د اکثرو ساختمانونو لپاره ثابت او سټنډرډ نقشې ورکړل شویدي چې ځینې یې په لاندې ډول دي.

Lined Ditches: (600x600 mm)، (800x1000 mm)...

RC Box Culverts: (100x100) cm، (1500x1500) mm، (2x2) m...

Pipe Culverts: Φ610 mm، Φ910 mm، Φ1220 mm، Φ1550 mm

او همدارنګه د پلونو او نورو برخو لپاره هم ثابتې نقشې ورکړل شویدي چې د Standard Drawing په نوم یادیږي او په راتلونکي کې به په تفصیل سره تشریح شي.

## : Design Parameters

پدغه پروژه کې ټول بوجونه د 50 کالونو، RC Box Clvts د 25 کالونو، RC Pipe Culverts د 10 کالونو او همدارنګه Road Side Ditches د 5 کالونو لپاره ډیزاین شویدي.

## : Channels، Ditches and Clvts

Minimum longitudinal Slope For Clvts: 0.5%

Minimum Ditches Bed Slope : 0.5%

Minimum Ditches length : 300 m

Maximum Flow velosity : 3 m/sec

Minimum Flow velosity : 1.8 m/sec

## : Methodology

د کشم نخه ترفیض آباده پوري Watershed Areas او همدارنګه هغه د ساحې دې هلته اوبه راځي او همدارنګه د ساحې توپوګرافي په راتلونکي برخه کې په نقشه کې لیدلای شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Run-Off Design Analysis:

د Run-Off د ډیزاین لپاره باید لاندې شیان په نظر کې ونیول شي. چې د Run-Off د ډیزاین لپاره ډېر مؤثر دي.

1. Extensive Field Data.
2. Use of Surface Run-off Coefficient (Table).
3. Watershed Characterstic.
4. Rainfall intensity Calculation.
5. Other Factors.

Rational Formula:

$$Q = C \cdot I \cdot A / 3.60$$

; C = Run-Off Coefficient

I = Rainfall intensity

A = Drainage Area

د سرخلاصي کانال د ډیزاین لپاره څو ضروري فرمولونه:

$$Q = A \cdot V$$

A = wetted Cross Section Area.

V = Flow velosity.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه د مانینګ د فرمول څخه لسرو چي :-

$$V = \frac{1}{n} \cdot R^{2/3} \cdot S^{1/2}$$

n – د مانینګ ضریب دی چې قیمت ئې (0.035) دی.

R – هایدرولیکي شعاع ده.

S – هایدرولیکي یا طولي میلان دی.

د پلونو لپاره هایدرولیکي دیزاین :-

Hydrolic Design for Bridges locations:

د هر برج (پل) لپاره (DHWL) Design Highstwaterlevel

په خصوص جدولونو کې ورکړل شوي دي کیدای شي په راتلونکي

څو نو کې تکرار شي. او همدارنګه هغه High flood level باید

وکتل شي چې په تیرو کلونو کې راغلي وي او لدي سره سره له

عامو خلکو څخه هم باید پوښتنه وشي.

Determination of Scour Depth at Bridge location:

د Scour Depth لپاره مختلفو عالمانو مختلف نظرونه

ورکړي دي او همدارنګه د مختلفو تجربوي فرمولونو څخه ئې استفاده

کېږي چې ځینې ئې په لاندې ډول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(a) laseles Formula :- $ds = 0.473\left(\frac{Q}{F}\right)^{0.333} \cdot \left(\frac{W}{L}\right)^{1.56}$.

(b) Shens formula :- $ds = 0.86822\left(\frac{V}{W}\right)^{12}$.

(c) Neills Formula :- $ds = 1.2(W)\left(\frac{D}{W}\right)^{0.30}$.

(d) Larrases formula :- $ds = 1.42(W)$.

(e) Breusers formula :- $ds = 1.4(W)$.

چیرته چې :-

$ds$ = Scour depth.

$Q$ = Discharge.

$F$ = Silt factor $(1.76\sqrt{d_{mm}})$.

$d_{mm}$ = Mean diameter Of Bed Materials.

د لیسي په فرمول د لاندېنیو فکتورونو په علاوه کولو سره کولای شو Scour depth محاسبه کړو.

| River Reach | Depth of Scour Factor(a) |
|---|---|
| Straight | 1.25 |
| Modrate Bend | 1.50 |
| Server Bend | 1.75 |
| Right Angle Bend | 2.00 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فکتورونو د اچولو څخه وروسته مجموعي Scoure Depth کولای

شو د لاندې فرمول په واسطه محاسبه کړو .

$$Ds = a(ds) - \text{depth of water}$$

دلیسي په فرمول کې (F) یا Silt Factor د خاورې د درجه

بندي څخه په لاندې ډول اخستل کیږي .

| Soil classification | F | dmm | Specific weight |
|---|---|---|---|
| | | | ton/m³ |
| large pebbles & coarse Gravel | 4.68 | Max. 7.50mm | |
| | 4.68 | Min. 2÷5mm | 2.65–2.68 |
| Heavy Sand | 4.68 | Max. 2÷5mm | 2.00 |
| Coarse Sand | | < 2.0mm | 2.65÷2.68 |
| Medium Sand | | Min 0.074÷0.05mm | 1.31 |
| Standard Kennedy silt | 1.00 | Max. 0.074÷0.05mm | 2.62÷2.68 |
| Lower Mississipi silt | 0.375 | | |

د پُل (برج) د Abutment لپاره دډبرو او بولډرو سایزونه څه

د برج یعني پلونو په Abutment کې د ضرورت وړ ډبرو قطر

او وزن د لاندې فرمول له مخې پیدا کولی شو .

$$d_n = 1.4(V^2)/(2 d_r g)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مخکینۍ فرمول کې :-

d = diameter of Stone or boulders.

dr = Relative density of Stone or boulders.

V = Flow velosity.

dr = (Unit.Wt. of Stone − Unit.Wt. of Water) / Unit.Wt. of Water

SWt = Stone density. $(Ton/m^3)$.

WWt = Water density. $(Ton/m^3)$.

$g = 9.81\ m/sec^2$

کله چې په میلان یا Side slope د جریان په مخ کې داځي نو
هماغه معادله استعمالیږي. یوازې یو تغیر ضریب ورسره علاوه
کیږي. چې نوموړی ضریب د Side Slope د زاویې (A)
او همدارنګه د تیګو او بولډرو د داخلي اصطکاک ضریب (زاوې) (B)
پورې اړه لري.

$$Fs = \frac{1}{\left[1 - \frac{(\sin A)^2}{(\sin B)^2}\right]} \quad ; \quad d = \frac{1.4 Fs \cdot V^2}{2 dr \cdot g}$$

Weight and stability factor for Stone and Boulders:-

Weight of Stones and Boulders:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$Ws = 0.8\, Swt \left[\frac{4}{3}\pi \left(d/2\right)^{3}\right] \text{ or } 0.8\, Swt\left(\frac{4}{3}\pi r^{3}\right).$$

Safety Factor :

$$S\text{-}F = \frac{1}{2}\left[E^2+4\right]^{0.50} - E \quad ; \quad E = (1/N)\cdot(1/\cos A)$$

$$N = 0.30\, V^2 / (Swt - Wwt)\, 9.81 d$$

کله چې Safety Factor د (1.5) څخه کوچنی شو نو د Side Slope لپاره Grouted، Stone Riprap ډیر ضروري دی.

: Hydrolic Design for Culverts

د پایپ پلچکو نو سایزاو د کارپروسه چې د (FHA) (U.S federal Highway Administration) او.

FHWA - Hydrolic Design series - No-5

څخه اخستل شو یده چې د دغو هوو پلچکو لپاره چې د Inlet او Outlet ساختمانونه او همدارنګه د همین جریان تیرول په ستیندرډ جدول ذکر شویدي.

Inlet Head water Depth:

$$HW = 1.20\, D\ m$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Out let Head Water Depth:~

$$H_w = (H + H_o - L_s)\,m$$

چیرته چې:~

$$\text{Headloss}\,(H) = \frac{K_e + 1 + (19.6\,n^2 L)}{\left[(R)^{0.333}\left(\frac{(Q/BD)^2}{2g}\right)\right]}\ ;m$$

$H_o$ – داوبو د پورتنۍ سطحې او د پلچک د out let د بېرتنۍ برخې ترمنځ عمودي فاصله ده .

(a) که جریانی ژوروالی د پلچک د ژوروالي نه کم وه نو:

$$H_o = (d_c + D/2)$$

(b) که جریانی ژوروالی د پلچک د ژوروالي نه زیات وه نو:

$$H_o = D$$

## Critical Depth Calculation for Culverts:~

RC Box culverts:~

$$D_c = \left[\frac{(Q/B)^2}{9.81}\right]^{0.333}$$

RC Pipe culverts:~

$$D_c = 0.4199\,K_e \cdot \left[\frac{Q}{D^{2.5}}\right]^{0.5107}$$

چیرته چې:~

(c) ketabton.com: The Digital Library

Ke = Entrance Coefficient.

Q = Discharge.

B = width of culvert.

D = Diameter of culvert.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهمه برخه

# دسرکونوپلان کول

# Highway Planning

آجراء کوونکي: نورالرحمن سهاک او نجیب الله
لاربښــــوداستاد:ډیپلوم انجینرشریف الله شیرزاد
دډیپـــــارټـمنـــت آمر: دوکـتورعبیدالله رحمتي

کـــــــال: 1389 هجري لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سړک پلان کول :- Highway Planning

د هر پروژې د کار د اجراء لپاره پلانګ یو ضروري جز ګڼل کیږي. چې تر
څو چې هر کار په ښه ډول پرمختګ وکړي. همدې فرضیې د انجنیري
پروژو لپاره ډیر ښه صدق کړی دی چې د سړکونو د جوړښت او انکشاف
لپاره ډیر اهمیت لري.

د سړکونو پلانګ د لاندې هدفونو لپاره صورت نیسي :-

① د لاس لاندې بودیجې له مخې د مناسب طول لرونکي سړک جوړول.

② که چیرې موجوده بودیجه د سړک د تکمیل لپاره کافي نه وي نو
د سړک مرحله ای انکشاف باید پلان شي.

③ د سړکونو پلانګ د سړکونو جوړښت ته د اولیت حق ورکوي.

④ د سړکونو پلانګ د سړکونو د ملي سیستم لپاره اهمیت لري.

د سړک پلانګ موضوعات :-

Ⓐ په اصغري قیمت سره د ښه سړک پلان کول.

Ⓑ د اعظمي استفادې لپاره د سړک پلان کول.

Ⓒ د سړکونو د آینده ضرورتونو لپاره پلان جوړول، او د
موجوده سړکونو لپاره انکشافي پروګرام تیارول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سړک د پلان کولو لپاره څینې مطالعات او معلومات ضروري دي چې

د هغوی څخه مهم یې په لاندې ډول دي.

1) اقتصادي مطالعات.

2) مالي مطالعات.

3) ترافیکي مطالعات.

4) انجینري مطالعات.

د سړک د پلان کولو په پروګرام کې لاندې موضوعات شامل دي.

A) توپوګرافیکي مطالعه.

B) د خاورې او موادو سروې.

C) د موجوده سړکونو موقعیت او صنفبندۍ مطالعه.

D) د سړک د ژوند څخه د دوام مطالعه -

E) د سړک د Drainage، ساختمان او مراقبت مطالعه.

ورځنی اوسط ترافیک :- Avirage Daily Traffic

د ترافیکو د ورځني تعداد د اندازه ګیرۍ د واحد څخه عبارت دی په -

کال کې او په ADT سره ښودل کیږي او یاد ترافیکو د تعداد څخه په

کال کې تقسیم په 365 ورځو، یا هم د ترافیکو د اوسط تعداد څخه

عبارت دی په ورځ کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په يو ساعت کې د ترافيکو اعظمي حد :- Peak Hours Traffic

د ورځې په جريان کې د ترافيکو حجم په سړک باندې تغير کوي او کله چې اعظمي تعداد ته ورسيږي يعنې په يو ساعت کې د Peak hour Traffic په نوم ياديږي .

د ترافيکو وړاندوينه :- Projection of Traffic

د نوي سړکونو جوړول بايد د موجوده ترافيکو په اساس صورت ونه نيسي ، بلکه هدف ترافيک هم په نظر کې ونيول شي چې په راتلونکې کې تولیديږي .

د ترافيکو د وړاندويني فکتور :- Traffic Projection factor

د ترافيکو د وړاندويني فکتور عبارت د اوسني ترافيکو او د اینده ترافيکو د نسبت څخه ده .

سړکونه نظر د هغوی سختۍ ته په دوه ډوله دي :-

a- سخت سړکونه :- Rigid Roads

b- ارتجاعي سړکونه :- Flexible Roads

سخت سړکونه چې فرش يې کانکريټي او يا هم او سپنيز کانکريټي وي ، لوړ اقتصادي مصارف لري او نرم يا ارتجاعي سړکونه چې فرش يې اسفالټي وي ، نسبتاً سخت سړکونو ته کم اقتصادي مصارف لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسړک سروې او مسیر ټاکنول :-

دسړک د مرکزي خط ( Center Line ) د موقعیت ټاکنول په پلان کې او یا هم د ځمکې په مخ دسړک د مسیر په نوم یادیږي.
دسړک د مسیر ټاکنول یو د مهمو کارونو څخه شمیرل کیږي، ځکه نامناسب مسیر د فوق العاده زیاتو مصارفو سبب ګرځي او هم د ارتګه حفظ او مراقبت پې هم ګران تمامیږي.
دسړک مسیر باید دلاندې خصوصیاتو لرونکی وي :-

1. مستقیم او لنډ وي .
2. آسانه وي او ډیرې لوړې ژورې ونه لري .
3. محفوظ وي .
4. اقتصادي وي .

همدارنګه هغه نقطې اغیزه لرونکې دي چې دسړک مسیر کنترولوي :-

a - اجباري نقاط .
b - دترافیکو حجم .
c - هندسي اجزاء او ډیزاین .
d - اقتصادي مسایل .
e - د سامې د سیلابونو راتګ .
f - موجوده لارې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غرنیزه او ناهموارو سیمو د سرکونو د مسیر ټاکلو لپاره لاندې فکتورونه باید په پام کې ونیول شي :-

① ثبات :- Stability

په غرنۍ منطقه کې باید د غره یا تپې په څنډه کې د سرک مسیر ثابت یعنې محکم وي.

② داوبو ویستلو سیستم :- Drainage

په غرنیو مناطقو یا تپه لرونکې سیموکې باید د سرک څنډو ته د Drainage System په نظر کې ونیول شي. او هم په تپه زاره مناطقو کې بهترین مسیر هغه ده چې د کم Drainage ساختمان لرونکې وي.

③ هندسي ستندردونه :- Geometric Standard

د تپه زارو مناطقو په سرکونو کې باید ځیلا نونه، د لیدلو فاصلې یعنې Sight Distance، أفقي ګولایانې (Horizontal Curve)، عمودي ګولایانې، د سرک عرض، او ترافیکي ضرورتیان په نظر کې ونیول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریمه برخه

# دسرک سروی او دمسیر تعینول

# Highway Survey and Alignment

آجراء کوونکي: نورالرحمن سهاک او نجیب الله
لارښـــوداستاد: دیپلوم انجینرشریف الله شیرزاد
دډیپـــارټمنټ آمر: دوکتورعبیدالله رحمتی

کـــال: 1389 هجري لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سړک سروې:-

## Engineering Survey for Highway location:

مخکې له دې چې دیو سړک نهائي مسیر وټاکل شي باید چې د سړک انجینري سروې اجراء شي، نوموړې سروې په لاندې څلورو مرحلو کې اجراء کیږي:-

a- د نقشې مطالعه:- Map Study

b- مشاهداتي سروې:- Reconnaissance

c- ابتدائي سروې:- Preliminary survey

d- نهائي موقعیت او تفصیلي سروې:- Detailed Survey

a- د نقشې مطالعه:-

دیوې ساحې د نقشې د مطالعې په أساس کولای شو چې د منطقې د سړک لپاره ابتدائي مسیر وټاکو. په دې نقشو کې سیندونه، ویالې، درې، غرونه او نور ښودل کیږي چې د دې نقشو د دقیقې مطالعې په أساس کولای شو څو مسیرونه وټاکو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## b- مشاهداتي سروي:-

د انجینري سروي دوهمه مرحله مشاهداتي سروي ده، چې پدې سروې کې د ځمکې وسیعې برخې مطالعه او اندازه کیږي، چې د سروې د عادي وسایلو لکه لیول ماشین، فیته او ترانزیټ څخه استفاده کیږي. هغه معلومات چې د مشاهداتي سروې په وخت کې باید ورکړل شي په لاندې ډول دي:-

(i) درې، حوضونه، وامینه لرونکې ځمکې، تپې، دایمې ساختمانونه د سرک د مسیر په خپلې ځنډونه او نور په ښه توګه.

(ii) د سرک میل یعنې Gradiant، داوبو وېشلو سیستمونه، دګو لایانو د شعاع مطالعه او په ښه کول.

(iii) د Drainages تعداد، نوعیت، شکل، او د اعظمي سیلاب د راتلو اندازه او همدا رنګه د ځمکې لاندې طبیعي او بې موجودیت مطالعه او په ښه کول.

(iv) د خاوري نوعیت، ساحوي تسمونه، او د ساحې د میو او ځمکې خواصو مطالعه او په ښه کول.

## c- ابتدائي سروي:-

دا سروې د مشاهداتي سروې (Reconnaissance) څخه وروسته د سرک د نولپاره اجراء کیږي (د لاندې هدفونو لپاره):-

(c) ketabton.com: The Digital Library

(i) ترڅو مختلف مسيرونه ارزيابي شي کوم چې د مشاهداتي سروې
په وخت کې تکميل شوي وي او د Drainage ، د ساحې توپوګرافي
او خاورې په باره کې معلومات راټولول پکې شامل دي .

(ii) چې د يو مسير لپاره مختلف حالتونه مطالعه او مناسب ئې انتخاب شي .

(iii) د ځمکې کارونو مطالعه او د هغه د موادو محاسبه ، او همدارنګه
د ساختمانونو محاسبات او د مصارفو ټاکنه .

(iv) د ټولو اړخونو په نظر کې نيولو سره د نهائي مسير ټاکنه .

ابتدائي سروې په لاندې دوه طريقو صورت نيسي :-

a- Coventional Approach :-

په دې سروې کې د سروې تيم د ساحوي سامان آلاتو څخه استفاده
کوي ، او همدارنګه د ساحې توپوګرافيکي نقشه او د خاورې سروې
اجراء کيږي .

b- Modern Rapid Approach :-

کله چې ساحه پراخه او وخت کم وي نو له دغه ډول سروې
څخه استفاده کيږي چې په دې صورت کې سروې د هوائي عکسونو
په واسطه صورت نيسي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۵ـ نهائي موقعيت او تفصيلي سروې:ـ

ابتدائي سروې د Centerline د موقعيت د ټيسنولو لپاره او تفصيلي سروې د سړک پلانونو او ساختماني کارونو د تفصيل لپاره اجراء کيږي.

په دې سروې کې مرکزي خط ( Center line ) د باريکو خطونو پواسطه نښاني کيږي او په هرو 30m کې سيخان ټک وهل کيږي او د ليول، تيودوليت، Total station او GPS څخه استفاده کيږي. په تفصيلي سروې کې Bench Mark تکميل کيږي او وروسته Leveling اجراء کيږي چې د ليول کارونه اجراء کول ډير اهميت لري ځکه عمومي مسير، Drainages او ځمکني کارونو محاسبه د ليول د Data څخه صورت نيسي.

ټول سيندونه او دريې بايد تفصيلي سروې شي، همدارنګه ټول جغرافيائي او جيولوجيکي معلومات بايد راټول شي او Plot کړای شي، علايم او مناسب هايدرولوژيکي معلومات بايد Record کړای شي.

همدارنګه د خاورې لپاره هم بايد تفصيلي سروې اجراء شي چې د هغې له مخې د خاورې پروفيل رسميږي، او د خاورې سمپل يعنې نمونه اخستل کيږي چې د نمونې د

اخستلو لپاره عمق د $(1.5 \div 3.0)m$ پورې د سړک د Groundline څخه لاندې دی.

هغه معلومات او Data چې د ځانګړي موقعیت او تفصیلي سروې په وخت کې راټول شوي وي هغه باید مکمل، دقیق او په ترتیب سره جوړ شوي وي ترڅو د هغې له مخې د سړک د پروژې ټول پلانونه، نمونه او وروستنی براورد اجراء شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورمه برخه

# دآرتجاعي سرکونو ډيزاين

# Flexible Pavement Design


آجراء کوونکي: نورالرحمن سهاک او نجيب الله
لارښـــــوداستاد:ډيپلوم انجينرشريف الله شيرزاد
دډيـــپـــــارتـمنـت آمر: دوکتور عبيدالله رحمتي


کــــــال: 1389 هجري لمريز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Pavement Design

په عمومي ډول سرکونه په دوه ډوله صنفبندي شوي دي.

(i) سخت سرکونه : Rigid Pavements

(ii) ارتجاعي (نرم) سرکونه : Flexible Pavements

ارتجاعي سرکونه کمزوري او ارتجاعي ځکميت لري او د بارونو لاندې ارتجاعي خواص یا په ارتجاعیت کې واقع کیږي.

ارتجاعي سرکونه د layer یا طبقو په واسطه عمودي یا فشاري بارونه طبقه په طبقه اساس ته انتقالوي.

سخت سرکونه د کانکریټو او کیدای شي چې د اوسپنیزو کانکریټو څخه هم جوړ شي چې ترکیبي اجزاء یې سمنټو، ریګ او جغل، اوبه، Admixture او نور ---

(ii) Flexible Pavement




(i) Rigid Pavement



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سرک د اساس طبقه :- Soil Sub Grade

دا د طبیعي خاورې یوه طبقه ده چې د سرک نور طبقات پرې اچول کیږي. او د نورو طبقاتو او د ټکسل لوډ یا بار ځمکې ته انتقالوي. دا مهمه ده چې Sub Grade باندې باید د هغه بار څخه زیات بار عمل ونه کړي. ځکه کیدای شي چې د هغه حد څخه زیات بار د Sub Grade د تغییر الشکل یا Deformation سبب شي.

د Sub Grade د ځکمیت د معلومولو لپاره ځینې ازمایښتونه اجراء کیږي.

(i) California Bearing Ratio Test.

(ii) California Resistance Value Test.

(iii) Triaxial Compression Test.

(iv) Plate Bearing Test.

د سرک د ډیزاین فکتورونه :-

① د موادو مکس ډیزاین چې د سرک د مختلفو طبقاتو لپاره اجراء کیږي.

② د سرک د ضخامت ډیزاین :- Thickness Design of Pavement

دسرک د ضخامت دډیزاین فکتورونه :-

(i) د ډیزاین لپاره د ټایرونو بار .

(ii) د اساس خاوره .

(iii) موثر فکتورونه .

(iv) دسرک د طبقاتو مواد .

دسرک د ډیزاین لپاره د ټایر بار یا Wheel load څیړنه ډیره مهمه ده . او د بار د تاثیر شکل په لاندې ډول دی .




(a) Pavement layers

(b) Distribution of Vertical stress under centerline of wheel load.

(c) Distribution of Horizontal stress under centerline of wheel load.

د Axel loads په دري ډوله دي :-



(c) ketabton.com: The Digital Library

دسړک دمحاسبې لپاره ضروري عوامل :-

① سړک د 80 Kilonewton یا 18 Kip مجموعي بار لاندې محاسبه کیږي اود 80kn لپاره ( Equivalent Single Axel load ) (ESAL)، پیدا کیږي چې ددې معلوماتو په نظر کې نیولو سره دسړک دطبقاتو محاسبه صورت نیسي.

② Traffic level :-

لاندې جدول د Traffic level لپاره ده چې نظر ESALD (Design Equivalent single Axel load) ته جوړ شوی دی.

| AASHTO Revised Design ESALD Range | Traffic level |
|---|---|
| <0.3 | A |
| 0.3 to <3 | B |
| 3 to <10 | C |
| 10 to <30 | D |
| ≥30 | E |

(c) ketabton.com: The Digital Library

③ دغزیدلي ضریب :- ( Resilient Modulus : (MR

داسرک بستر دټکموالي یا سختوالي د اندازه ګیرۍ ضریب دی.

④ Realability (%R) :-

د Realibility استعمال د سرک د ډیزاین انجینر ته اجازه یا امکان ورکوي چې پروژه ډیره نژدې حقیقت ته ډیزاین کړي.

⑤ Standard Normal Deviate: (ZR) :-

داد Realibility (%R) د مقدار ځواب ورکوونکی فکتور دی کوم چې لوګاریتمي شکل ته د محاسبې لپاره بدل شوی ده.

⑥ Standard Deviation ($S_o$) :-

د Standard Deviation ($S_o$) = 0.45 د ډیزاین د محاسباتو لپاره په نظر کې نیول کیږي یا ترڅو د ترافیکو په لوډ کې تغیرات پیشبیني شي.

⑦ Percent Serviceability Index : ( PSI ) :-

داد یو سرک قابلیت دی چې وکولای شي هغه ترافیک چې استفاده تری کوي برداشت کړي. او د ( 0÷5 ) عدد ونه استعمالیږي چې 5 د ډیر ښه او (0) د خراب لپاره مشخص کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Initial Serviceability (PI) :-

د ادنوي سرک لپاره پوشرطدی چې د 4.2 قیمت انتخابیږي.

Terminal Serviceability (PT) :-

دا د هغه سرک لپاره یو شرط دی چې داسرک داسې خای ته ورسیږي چې هلته بیا جوړونه یا Reconstruction جریان ولري.
دد غه شرط لپاره 2.5 قیمت انتخابیږي.

ΔPSI :- Chang In Serviceability

دا د PI او PT ترمنځ د تفاوت څخه عبارت دی چې د 1.7 قیمت ورته انتخابیږي.

مجهولات :- Unknowns

Required Structural Number (SNR) :-

دا یو اندازه شوی قیمت د سرک ده چې د ترافیکو د بار Load او د سرک د بستر د سختۍ څخه محاسبه کیږي چې د Pavement Structure یا د سرک د ساختمان محکمیت (Stenght) واضح کوي.

AASHTO Designation Equation for Flexible Pavement:

$$\log_{10} W_{18} = Z_R * S_o + 9.36 * \log_{10}(SN+1) - 0.02 + \frac{\log_{10}\left[\frac{\Delta PSI}{4.2-1.5}\right]}{0.4 + \frac{1094}{(SN+1)^{5.19}}} + 2.32 * \log_{10}(M_R) - 8.07.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$S_N$ = Structural Number Required Inches (mm).

$W_{18}$ = Accumulated 18-kip (80kN) Equivalent Single-Axel load over the life of the Project (ESAL).

$Z_R$ = Standard Normal Deviate.

$M_R$ = Resistance Modulus Psi (MPa).

$S_o$ = Standard Deviation.

$\Delta PSI$ = Change In Serviceability.

$SNR = /(ESAL_D)\ MR \cdot \%R)$.

For New construction.

$SNc = SNR$

SNc :- د نوي جوړېدونکي سړک لپاره د هغې د طبقاتو لپاره جوړې ساختماني عدد دی.

د ډیزاین موده :- دا د بڼائي سړکونو په ډیزاین کې د ډیزاین عمر د 8÷20 years پورې اټکل کیږي چې د نویو سړکونو لپاره دا موده عموماً 20 years قبلیږي.

Design Period For Flexible Pavement. Table 3.1-P.3.3

New Construction or Reconstruction : 20 Years

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیدای شي چې د دیزاین موده کمه هم شي چې دا باید په پروژه کې ذکر شي.

Friction Course Options :-

د اصطکاک لپاره لاندې جدول په نظر کې ونیسو:-

Friction Course:

| | |
|---|---|
| Fc-9.5 | 110 lb/yd² (72 kg/m²) |
| Fc-12.5 | 165 lb/yd² (96 kg/m²) |
| Fc-5 | 80 lb/yd² (44 kg/m²) |

د هغه اکمي سطحې لپاره د اصطکاک ضریب Fc=12.5 او Fc=9.5 دی چې 30mm ÷ 40mm پورې ضخامت لري.

د کمې متراکمي سطحې لپاره د اصطکاک چې Fc-5 دی او 20mm ضخامت لري منل کیږي.

د 60 km/h یا 35 Mph سرعت لپاره د Two lane یعنې دوه لینه سړک لپاره Fc=12.5 ، Fc-9.5 د اصطکاک سطحه په نظر کې منل کیږي.

$SN = 5$

| Total Axle load in kip (kN) | | Equivalent Damage in ESAL's |
|---|---|---|
| Single Axle | 14 (62) | 0.36 |
| | 18 (80) | 1.00 |
| | 22 (98) | 2.18 |
| Tandem Axle | | |
| | 30 (133) | 0.66 |
| | 34 (151) | 1.09 |
| | 38 (169) | 1.70 |
| | 44 (196) | 3.00 |

$$ESALD = \sum_{y=1}^{y=x} (AADT \cdot T_{24} \cdot D_F \cdot L_F \cdot E_{18} \cdot 365)$$

ESALD :- دیواکیل مجموعی باری دیزاین دموودی لیاره .

Y :- ژمارەی کال بۆ حاسبە وەرتەگیری .

X :- دەوری دیزاین کال .

AADT = Average Annual Daily Traffic.

$T_{24}$ - دەرێژەی ئۆتۆمبێلی فیعلی بە 24hr کێ .

$D_F$ - Directional Distribution factor د One way Traffic لیاره

1.0 اود Two way Traffic لیاره 0.5 دی .

$L_F$ :- Lane Factor دی .

$E_{18}$ :- Equivalency factor جی ددی بواسطە ضریب سرکی تەرد 18 kip (80 kN)
بواسطە معلومە بزی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Lane Factors:

| Total AADT | Two lanes |
|---|---|
| 4000 | 0.94 |
| 8000 | 0.88 |
| 12000 | 0.85 |
| 16000 | 0.82 |
| 20000 | 0.77 |
| 30000 | 0.75 |
| 40000 | 0.73 |
| 50000 | 0.72 |
| 60000 | 0.70 |
| 70000 | |

Table D.2 P.198

Equivalency Factor : Table D.3

| Free ways | Flexible pavement | Rigid Pavement |
|---|---|---|
| Rural | 1.05 | 1.60 |
| Urban | 0.90 | 1.27 |

اوس د ډیزاین د مودې لپاره مجموعي بار د اکسل څوایه لاندې جدول محاسبه کیږي.

ځینې ثابت فکتورونه ورکړل شویدي چې په راتلونکي مخ کې ښودل شویدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$T_{24} = 12\ \%$

2014 Estimated AADT = 800

2025 Estimated AADT = 1200

$D_f = 0.50$ (For Two way Traffic).

$E_{18} = 0.96$ (From Table D.3).

$L_f = (1.567 - 0.0826 \cdot Ln(\text{one way AADT}) - 0.12368 \cdot L_v)$.

$L_v = 0$ ; if Numbers of lanes in one Direction is Two.

Ln = Neatural logarithm.

موږ د $ESAL_D$ د 20 years د دیزاین موده لپاره چې په

2014 کې شروع کیږي پیدا کوو :-

$$ESAL_D = \sum_{y=2014}^{y=2025} (AADT \cdot 0{,}12 \cdot 0{,}50 \cdot L_f \cdot 0{,}96 \cdot 365) = ;$$

$L_f = (1{,}567 - 0{,}0826 \cdot Ln(800)) - 0 \Rightarrow$

$L_f = 1{,}567 - 0{,}742 \Rightarrow 0{,}824$ ; Hence:

$$ESAL_D = \sum_{y=2014}^{y=2025} (800 \cdot 0{,}12 \cdot 0{,}50 \cdot 0{,}824 \cdot 0{,}96 \cdot 365) =$$

$$ESAL_D = 13859$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

| Year | AADT | $L_F$ | Accumulated ESAL |
| --- | --- | --- | --- |
| 2014 | 800 | 0.824 | 13859 |
| 2015 | 850 | 1.010 | 18049 |
| 2016 | 900 | 1.005 | 19646 |
| 2017 | 1000 | 0.996 | 20221 |
| 2018 | 1100 | 0.932 | 22349 |
| ⋮ | ⋮ | | |
| 2024 | 1150 | 0.829 | 28235 |
| 2025 | 1200 | 0.811 | 30644 |

نوێدی أساس زموونی مجموعی اکسل بارد 11years په موده‌کی -
28235 یا 29000 یا 30000 دی.
نوموونی دخیل سرک په دیزاین چیل کوو -

فرز دالنوTable 5.2 P49 دمهندی جدول Realibility (%R)

Rural Arterials 75÷90

Average Annual growth of Traffic = 6%

اوس MR یا Resilient Moduls پیداکوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

CBR Acquired From Test = 10.

MR = 750 · CBR ⇒ 750 · 10 = 7500 psi = 51 mpa

20 years Design Period:

Design Speed: 55 mph (90 km/h) in urban.

45 mph (70 km/h) For Rural Road.

Table 5.3 / 5.2 د (SNR) Structural Number اوس

تخة پە لاس داوەدوێ :-

$SN_R = 2{,}92$ inch $= 2{,}92''$

layer thickness calculation:

$SN_c = (a_1 \cdot D_1) + (a_2 \cdot D_2) + (a_3 \cdot D_3) + \dots + (a_n \cdot D_n)$

$a_1$ = layer coefficient داوێ طبقێ ضریب

$D_1$ = layer thickness د طبقێ ضخامت

دێ د layer ضرایب د Table 5.4 قەرار دالمستلای ئێک.

$SN_R = SN_c$ $a_1 = 0.44$

$2{,}92'' = (0{,}44 \cdot D_1)$

(c) ketabton.com: The Digital Library

* Wearing Course Design:

$2{,}92'' = 0{,}44 \cdot D_1 \Rightarrow D_1 = 1{,}168'' \cdot 2{,}54 = 3_{cm} \approx 5\,cm$

We assume thickness of wearing course = 5 cm

$SN = 2{,}92 \cdot 0{,}4 = 0{,}824$

* Binder Course Design:

$a_2$ = layer Coefficient = 0.4 from Table

$SN_2 = 2{,}9$ $D_2$ (Binder Course) = $(SN_2 - SN_1)/a_2$ =

$D_2$ (Binder Course) = $(2{,}9 - 0{,}827)/0{,}4 \Rightarrow 5{,}183$

We Chose $2{,}3622'' = 6\,cm$

$SN = 0{,}4 \cdot 2{,}3622 = 0{,}9444$

* Base Course Design:

from Table $SN_3 = 3{,}8$ $a_3 = 0{,}14$

$D_3$ (Base Course) = $[SN_3 - (0{,}827 + 0{,}9449)]/0{,}14$ =

$D_3 = \{SN_3 - (SN_1 + SN_2)\}/a_3 = 14{,}49''$

we Accept $D_3 = 20\,cm = 7{,}874''$

$SN_3 = a_3 \cdot D_3 \Rightarrow 0{,}14 \cdot 7{,}874 \Rightarrow 1{,}10236$

(c) ketabton.com: The Digital Library

## * Sub Base Course Design:

From Table , $SN_4 = 4$ , $a_4 = 0,11$

$$D_4 = [4 - (0,827 + 0,9449 + 1,10236)] / 0,11 = 12,3 \text{ inch}$$

$D_4 = 13'' = 33\text{cm}$

### Summary of the Design:

Wearing course = 5cm

Binder course = 6cm

Base course = 20cm

Sub Base Course = 33cm

### Layer thickness Design:

Illustration of layer thickness.




Surface Course { Wearing Course / Binder Course }

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځمه برخه

# د سرک دهندسي آجزاوو ډيزاين

# Highway Geometric Design

آجراء کوونکي: نورالرحمن سهاک او نجيب الله
لارښــــوداستاد:ډيپلوم انجينرشريف الله شيرزاد
دډيـــپـــــارتـمنـــت آمر: دوکتورعبيدالله رحمتي

کـــــــال: 1389 هجري لمريز

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سرک د هندسي اجزاوو ډيزاين :-

## Highway Geometric Design :-

د سرک هندسي اجزاء بايد مخکې د سرک د اعمار څخه طرح او ډيزاين شي. د سرک هندسي اجزاء عبارت دي له د سرک طولاني ميل Gradient، سوپر ايليويشن Super Elevation، د سرک عرضي ميل Camber، د سرک عرض Road width، افقي ګولائي Horizontal curve، عمودي ګولائي Vertical curve، د ليد لو ساحه Sight Distance، او نورو څخه عبارت دي.

د سرک هندسي اجزاء په دريو کټګوريو تقسيم شوي دي.

1. عرضي ميل او سوپر ايليويشن.
2. د ليد لو ساحه او د توقف ساحه.
3. افقي او عمودي ګولايانې.

په لومړي کټګورۍ کې د سرک عرض، د شولډرونو عرض، د تير شوي برخې عرض، د سرک حريم او عرضاني ميل د سرک مطالعه کيږي.

په دوهمه کټګورۍ کې د ليد لو ساحه، د سبقت ساحه او د توقف ساحه مطالعه کيږي چې د دريو ګولای شي بې له تصادم څخه موټر چلوونکي يا سبقت وکړي.

په دريمه کټګورۍ کې د افقي او عمودي ګولائي ډيزاين تر سره کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سړک د هندسي اجزاوو د ډیزاین فکتورونه :-

① د ډیزاین سرعت :- Design Speed

② د عرادو جاتو فزیکي طرح :- Vehical Design

③ د سړک نوعیت او موقعیت :- Classification of Roadway

④ د ساحې توپوګرافي :- Topography

⑤ د ترافیکو حجم په فی ساعت کې :- Design Hourly Volume

⑥ محیطي شرایط :- ENvironmental factors

د سړک د عرضي مقطع اجزاء :-

د ډیزاین سرعت :- Design Speed

د ډیزاین سرعت یوله مهمو فکتورونو څخه دی چې د سړک په هندسي ډیزاین کې مهم رول ولري. د سړک د اکثرو هندسي اجزاوو ډیزاین د ډیزاین په سرعت پورې اړه لري، مثلاً د لید لوري ساحه، افقي او عمودي ګولايي، سوپر ایلیویشن او نور ټول د ډیزاین د سرعت په اساس ډیزاین کیږي.

د سړک د ډیزاین سرعت د سړک د نوعیت لکه ملي، ایالتي، د ولسوالۍ سړکونه، کلیوالي، د سړک د لینو نو په تعداد، او توپوګرافي نوعیت پورې اړه لري چې د مختلفو سړکونو لپاره د ډیزاین سرعت په دې جدول کې ورکړل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| دسرک نوعیت | هموار ه ساحه | غرنی ساحه |
|---|---|---|
| ملي سرکونه | 80 km/h | 50km/h |
| ولایتي سرکونه | 80km/h | 50km/h |
| دولسوالیو سرکونه | 60km/h | 40km/h |
| کلیوالي سرکونه | 40km/h | 20km/h |

Table: 5.1

څرنګه چې زمادنظروړ سړک دولایتي سرکونو په کټګورۍ کې راځي او په نیمه هموار ه ساحه کې شامل دی نوځکه یې اساس دیزاین سرعت ورته 60km/h په نظر کې نیسو :- Design Speed = 60km/h

① دسړک عرضي میل یا :- Cross Slope or Camber

کمبر دسړک عرضاني میلان ته ویل کیږي . چې سړک په ټول مرکزي سطح کې په محدب شکل لوړوالی لري چې لوړترینه نقطه کې دکرون یا تاج په نوم یادیږي. Crown ددواړه خوا میلونو د تقاطع څخه دسړک په مرکزي برخه کې په لاس راځي. چې دا میل 1:n په دواړو اړخونو کې د Crown پنوم ل کیږي . دکمبر دساختمان څخه اصلي هدف داوبو خارجول دي دسړک دسطحې څخه ترڅو اوبه دسړک طبقاتو ته نفوذ ونه کړي . د اوبو نه ډیدل دسړک دپاسه دموټرونو دسرعت د کمیدلو او دلغزش سبب ګرځي .

دسړک دعرضاني میلونو شکلونه په راتلونکي مخ کې ورکړل شوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library




a. Parabulic Shape Camber. $\left[ Y = \frac{2x^2}{nW} \right]$.




b. Straight Lane Camber.




c. Combination of Straight and Parabulic Shape.

د کمبر مقدار د مختلفو سرکونو لپاره دلاندې جدول څخه اخستل کیږي.

| د باران مقدار په سلمه کې | | د سرک د سطحې نوعیت |
|---|---|---|
| light کمتر | Heavy زیاتر | |
| 1:60<br>1,7 % | 1:50<br>2,0 % | د سرک سمنټ کانکریټي سطحه او قیر شوې سطحه |
| 1:50<br>2,0 % | 1:40<br>2,5 % | قیر ریزي شوی سرک په کم ضخامت سره |
| 1:40<br>2,5 % | 1:33<br>3,0 % | جغل لرونکی سرک |
| 1:33<br>3,0 % | 1:25<br>4,0 % | خاوریني سطحې لرونکی سرک |

## په ساحه کې د عرضاني میل استعمالول :-

څرنګه چې د سړک ضخامت کم او قیرشوی دی نو 1:40 یا 2,5% Camber ورته انتخابوو. په ساحه کې د عرضي میل استعمالول د لاندې فرمول پواسطه صورت نیسي.

$$Y = x^2/a \quad ، \quad x = \frac{nw}{2} \Rightarrow Y = \frac{2x^2}{nw}$$

w - د قیرشوي سړک عرض دی.

1:n - عرضي میل دی،

x - د سړک د مرکز څخه افقي فاصله ترهغې نقطې پورې چې د کمبر ارتفاع مطلوبه وي.

Y - د سړک د کنار څخه د تختې ارتفاع په مختلفو نقطو کې.

داچې زموږ منتخب سړک ولایتي سړک دی نو عرض یې 7,5m انتخابوو.

Camber = 1:40 or 2,5%

Width = 7,5m

$$Tag\,\alpha = Camber = 1/40 = y/0{,}5w \Rightarrow y = \frac{1}{60} \cdot 0{,}5w \Rightarrow$$

$$y = 1/60 \cdot 0{,}5 \cdot 750 \Rightarrow 6{,}25\,cm \Rightarrow y = 6{,}25\,cm$$



(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیرې کمبر پارابولیکي شکل ولري نو په لاندې جدول استعمالیږي.

Cross Slope = 1:40 ، width = 7,5m

Ordinates at 7,5/8 m from Center = $\frac{2x^2}{nw} \Rightarrow \frac{2\left(\frac{7,5}{8}\right)^2}{40 \cdot 7,5} =$

$y = 0,586$ cm

Ordinates at 7,5/4 m from Center = $\frac{2x^2}{nw} \Rightarrow \frac{2\left(\frac{7,5}{4}\right)^2}{40 \cdot 7,5} =$

$y = 2,344$ cm

Ordinates at 7,5/4 m from Center = $\frac{2x^2}{nw} \Rightarrow \frac{2\left(\frac{7,5}{3}\right)^2}{40 \cdot 7,5} =$

$y = 4,167$ cm

سیخبندي ددې لپاره کیږي چې کانکریټ د درزونو او تخریب څخه وژغورل شي او هم د کانکریټو د انبساط او انقباض څخه مخنیوی وشي. د سلب په یو متر کې طولاني او عرضاني سیخان د لاندې فرمول په واسطه محاسبه کیږي.

$$A = \frac{L \cdot F \cdot W}{2 \times S}$$

L - د سلب طول دی $L = 4m$ ، w - د کانکریټو حجمي وزن $w = 2500\ kg/m^3$ ،

S - د سیخانو کششي مقاومت $S = 1200\ kg/cm^2$ ، F - د اصطکاک ضریب ده $F = 1{,}5$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سلب په یو متر طول یا عرض کې د سیخانو مساحت د یوې طبقې لپاره په

دې ډول دی:

$$A_1 = \frac{4 \cdot 1{,}5 \cdot 2500}{2 \cdot 1200} \cong 6{,}5\,cm^2$$

دا چې د سلب ضخامت $T = 25\,cm$ دی نو باید دوه ګوني سیخبندي وشي

چې د دوه طبقو یې د سیخانو مجموعي مساحت په یو متر کې مساوي دی له:

$$A_s = A_1 + A_2 = 6{,}5 + 6{,}5 = 13\,cm^2$$

Use $\phi 12\,mm$ bars :- $A\phi = 1{,}13\,cm^2$

$$\text{spacing } c/c = \frac{A\phi \cdot 100}{A_1} \Rightarrow \frac{1{,}13 \cdot 100}{6{,}5} \Rightarrow 15\,cm$$

$\phi 12\,mm$ @ $15\,cm$ c/c

Design of Tie bars — د عرضاني سیخانو محاسبه:

Tie bars یا عرضاني سیخان د سلب په طول کې اچول کېږي. او

وظیفه یې دا ده چې دوه څنګ په څنګ سلبونه سره وصلوي او

یو بل ته محکم ارتباط ورکوي.

عرضاني سیخان په یو متر کې د لاندې فرمول له مخې اچول کېږي.

$$A_s = \frac{b \cdot h \cdot w \cdot F}{100 \cdot f_s} \Rightarrow \frac{4 \cdot 0{,}25 \cdot 2500 \cdot 1{,}5}{100 \cdot 1400} = 2{,}679 \approx 2{,}7\,cm^2$$

Use $\phi 12\,mm$ bars.

$\phi 12\,mm$ @ $20\,cm$ c/c

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عرضاني سیخانو د طول محاسبه:-

length of Tie bars:-

د عرضاني سیخانو طول نظر د سلب ضخامت او د سیخ قطر ته د جدول څخه أخستل کیږي چې $L=60cm$ او د هغوی طول په واسطه د لاندې فورمول پیدا کیږي.

$$L=\frac{d\cdot Ss}{2\cdot Sb}$$

d - د سیخ قطر - $d=12mm$

Sb - د کانکریټو کشش تشنج دی. $Sb=15\,kg/cm^2$

$$L=\frac{1,2\cdot 1400}{2\cdot 15,0}=56cm\approx 60cm$$

همدارنگه د سلبونو پیاره طولاني سیخان Dowel bars د جدول څخه یې بیدون د محاسبې څخه هم را أخستل کیږي.

Dowel bars = $\phi$25mm @ 30cm c/c

L - د طول څخه عبارت دی. $L=50cm$

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوومه برخه

# دسرک جوړولو لپاره ساختماني مواد

# Highway Construction Materials


اجراء کوونکي [illegible] الرحمن سهاک او نجیب الله

لارښـــود استاد [illegible] انجینر شریف الله شیرزاد

دديـــپارتمنټ [illegible] دوکتور عبیدالله رحمتي


کـــــال: 1389 هجري لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوومه برخه :-

## دسړک ساختماني مواد :-

### ① دسړک دبستر خاوري :-

دسړک د لاندیني قسمت خاوري په سړک جوړولو کې ډیر اهمیت لري ځکه چې دسړک اساس او تهداب همدغه خاوري تشکیلوي. او د سړک ټول وزن برداشت کوي. مخکې دسړک د اعمار څخه ددې خاورو طبقه باید ښه ټینګ کاري شي.

خاوري په څلورو ګروپو ډبرګۍ، جغل، سلټ Silt او کلې تقسیم شوي دي.

دخاورو خواص دخاوري په Texture، Composition او Shape پورې اړه لري.

د Sub Grade دخاوري لپاره باید لاندې خواص مطالعه شي.

① دخاوري درجه بندي Gradation

② دخاوري رطوبت Water Content

③ داوبولر لوحد Atterberg Limit

④ کثافت دخاوري Unit Weight or Density

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دخاورې د ټینګښت درجه یا د اوبو لرلو حالت :-

## Soil consistency :-

دخاورې خواص نظر د اوبو فیصدۍ ته تغیر کوي، د اوبو فیصدۍ چې خاوره دیو حالت څخه بل حالت ته تغیروي دخاورې د اوبو لرلو یا لزجي Soil Consistency پواسطه تشریح کیږي.

د زیاتو اوبو موجودیت دخاورې د ذراتو ترمنځ چسپش کموي په هغې اساس خاوره په اسانۍ سره کولای شي چې دمایع حالت کې حرکت وکړي.

د اوبو دفیصدۍ په تغیر سره خاوره کولای شي چې مایع، نیمه جامد او جامد حالت غوره کړي. چې دا خاصیت دکلي لپاره ډیر اهمیت لري. ډیګ بغیر له چسپش څخه خاوره ده چې Non Cohesive ورته وائي.

که دخاورې یوه کتله په مشبوع حالت کې په پام کې ونیول شي چې د خمیري په شکل حالت غوره کړي. د اوبو فیصدي په معین مقدار کې د Liquid Limit یا د مایع حد پنوم یادیږي. او دې حالت څخه وروسته ډیر وچوالی حالت د Plastic State یا پلاستیکي حد پنوم یادیږي چې مایع جریان نه شي کولای.

که د وچولو پروسه نوره هم دوام وکړي پدې صورت کې د نیمه جامد او که نوره هم وچه شي د جامد حالت یعنې Solid State غوره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته ددې څخه دکلي حجم داوبو په کمولو سره ثابت پاتې کیږي چې دا حالت دانقباض دحد Shrinkage limit په نوم یادیږي.

دخاورې داوبو لرلو دحدودو دمعلومولو لپاره لاندې ټستونه اجرا کیږي:

1. په مایع حدکې داوبو لرلو فیصدي Liquid Limit (LL)
2. په پلاستیکي حدکې داوبو لرلو فیصدي Plastic limit (PL)
3. دانقباض حدکې داوبو لرلو فیصدي Shrinkage limit (SL)




Shrinkage limit، Plastic limit، liquid limit

دخاورې دنرخه ددرې اوبو لرلو دحالت څخه دخاورې په صنف بندۍ کې استفاده کیږي.

$PI = LL - PL$

Plasticity Index $= PI$

که چیرې PL د LL څخه لوی یا مساوي وي نو $PI=0$ او خاوره بغیر د پلاستیکیت خاصیت لرلو څخه ده.

د PI په اساس دخاورې صنفبندي په راتلونکي مخ کې په جدول کې ښودل شویده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| PI | Soil Characteristic | Soil type | Cohesiveness |
|---|---|---|---|
| 0 | Non Plastic | sand | Non Cohesiveness |
| <7 | low Plastic | silt | Poorsialy cohesive |
| 2÷17 | Medium Plastic | siltyclay | Cohesive |
| >17 | High Plastic | clay | cohesive |

د مایع حد پیداکول :- Determining liquid limit

100gr د خاورې نمونه د No = 40 sieve څخه تیروو او نغري په مخ تر 15mlit اوبه ورعلاوه کوو تر څو خاوره په خټه تبدیل شي. دا خټه په مخصوصه کاسه کې اچول کیږي. او د یوې آلې په واسطه تقسیمیږي. وروسته د Liquid Limit ماشین چالانیږي او کاسې ته ضربې Bumps ورکوي تر څو خټه سره وصل شي او وروسته یو څه خټه په مخصوصې قطعې کې اچوو او وزن کوو یې وروسته بیا د اوبو فیصدي او د ضربو ګراف له مخې د مایع حد پیدا کوو. او د اوبو فیصدي چې په 25 ضربو کې لاس ته راځي د نمونې د مایع د حالت یا Liquid Limit په نوم یادیږي.




LL = 35

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Determining of Plastic limit :- د پلاستیکت د حد پیدا کول :

د پلاستیکت د حد پیدا کولو لپاره لومړی خټه چې فقط موږ د L.L تست اجراء کړی اوس بیرې د پلاستیکت د حد تست اجراء کوو. لږه خټه را اخلو په یوه شیشه کې ئې اچوو او یوه لوله ترې جوړوو تر څو قطر ئې 3mm شي او د لاس په واسطه حرکت ورکوو. کله چې درزونه پکې معلوم شي نو بیا ترې یو مقدار په قطي کې اچوو او د رطوبت اندازه ئې پیدا کوو. دا عملیه د 2÷3 ځلې بیا تکراروو.

### د خاوري صنفبندي نظر د دانو سایز ته :-

خاوره نظر د دانو سایز ته په جغل، ریګ، سلټ او کلې صنفبندي شوېده. د خاوري د نوعیت د پیژندلو لپاره مختلف طریقې وجود لري.

جدول :- د خاوري صنفبندي نظر د دانو اندازې ته :-

| Gravel | Sand | | | Silt | | | Clay | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Coarse | Medium | Fine | Coarse | Medium | Fine | Coarse | Medium | Fine |
| | 2,0 | 0,6 | 0,2 | 0,06 | 0,02 | 0,006 | 0,002 | 0,0006 | 0,0002 |

Values are in Millimeter

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخاورې صنفبندي ديونيفايډ سيستم په أساس :-

Unified Soil Classification System:-

داسيستم لومړی دکاسا ګرنډي پواسطه په کال 1942م کې رامنځ ته او وروسته دتحقيقاتو څخه يې تغيرات رامنځ ته شول.

خاورې نظر ددانو سايز ته په دوه عمده ګروپونو غټه دانه Coarse-Grained او ميده دانه Fine Grained تقسيمېږي. غټه دانه خاورې په G او ريګ په S سمبول کېږي چې دابيا په فرعي ګروپونو تقسيمېږي چې Well graded (W) دګل سره (C)، Well graded، Poorly graded (P)، هغه موادچې په لږ اندازه سلټ سره يوځای وي په (M)، ميده دانه جغل په GM، ميده دانه ريګ په SW او ضعيف دانه جغل په GP سره سمبول کېږي.

ميده دانه خاورې چې ټيماني ته زيات څخه د 200 نمبر غلبيل څخه تېرېږي په دوه ګروپونو تقسيمېږي.

① هغه خاورې چې Liquid limit يې د 50% څخه کم وي د (L) په سمبول سره سمبول کېږي.

② هغه خاورې چې Liquid limit يې د 50% څخه زيات وي د (H) په سمبول سره سمبول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو موږ ي صنفبندي د خاورې د مایع د حد او پلاستیکیت د مرستې په

لاس راځي. د M، C، O سمبولونه په ترتیب سره د غیر عضوي

سلټو ګروپ پورې چې ریګ، غیر عضوي کلي او عضوي خاوره شامل

دي منوم یادیږي.

د خاورې صنفبندي د AASHTO په طریقه:-

د دریو ټسټونو پواسطه دا طریقه اجرا کیږي چې هغه د غلبیل

تحلیل، L.L او P.L څخه عبارت دي.

پدې طریقه کې خاورې په اوو ګروپونو تقسیم شوي دي چې عبارت دي

له:- A-1، A-2، A-3، A-4، A-5، A-6 او A-7 څخه.

$A_1$، $A_2$ او $A_3$ دانه داري خاورې دي چې د 200 نمبر غلبیل څخه

د هغوی تیریدونکې فیصدي د 35% څخه کمه وي.

$A_4$، $A_5$، $A_6$ او $A_7$ میده دانه خاورې دي چې د 200 نمبر غلبیل

څخه چې د 35% څخه زیات مواد تیریږي.

A-1 ښه دانه خاوره ده چې د تیږو د ټوټو، جغل، ریګ، میده ریګ

او بې پلاستیکه خاورې څخه مخلوط شوي وي. دا ګروپ په دوه فرعي ګروپونو

چې A-1-a او A-1-b دي تقسیمیږي. A-3 چې اصلاً په یونیفارم

شکل درجه بندي شوي او د ریګ د متوسط او میده دانو، جغل او نورو څخه تشکیل ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

A-2 - خاوره لرونکې ګروپ ده چې د $A_1$، $A_2$، $A_3$ څخه تر $A_4$، $A_5$، $A_6$، $A_7$ پورې چې شامل دي او په A-2-4، A2-5، A2-6، او A2-7 فرعي ګروپو ویشل شویده.

A-4 - په عمومي صورت سلټي خاوره (silty soil)، NonPlastic او L.L او PI يې د 40 څخه کم وي.

A-5 - داهم silty ده او P.I يې د 40% څخه کم دی، مګر L.L يې 40% ته رسیږي. دا ګروپ الاستیکي خاصیت لري.

A-6 - Plastic Clay خاوره ده او لوړ P.I لري او L.L يې د 40% څخه کم دی او د رطوبت په نظر کې نیولو سره يې حجم تغیر کوي.

A-7 - داهم کلي لرونکې ګروپ دی لکه A-6 مګر P.I او L.L يې دواړه جګ دي.

## دخاوري ګروپ انډکس :-

## Group Index of Soil :-

دخاوري Group Index د No 200 غلبیل څخه دخاوري د تیرې شوي فیصدی او همدارنګه د L.L او P.L او P.I تابع وه.

په هره اندازه چې دخاوري Group Index زیاتیږي په همغه اندازه خاوره خرابیږي او ضعیفیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخاورې ګروپ انډکس د لاندې معادلې په واسطه محاسبه کیږي:-

$$GI = 0{,}2a + 0{,}005ac + 0{,}01bd$$

a- د No 200 غلبیل څخه تیرې شوې خاورې فیصدي ده 30÷35%.

b- د هغه مقدار تیرې شوې خاورې څخه عبارت ده چې د 15% څخه زیات
او د 55% څخه کم وي.

c- د L.L قیمت چې د 40÷60 په منځ کې وي.

d- د P.I قیمت چې د 10÷30% پورې وي.

نظر پورتنۍ فورمول ته د GI أصغري قیمت صفر او أعظمي 20 ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس ځینې خاورې چې آزمایشات ئې د لابراتوار څخه لاس ته داغلي.

تحلیل کوو د Unified او AASHTO سیستمونو په واسطه چې آیا دا خاورې

د سرک د طبقاتو لپاره مناسبې دي او که نه.

① Unified :-

60% خاوره د 4,75mm غلبیل څخه تیره شوې چې میده خاوره ګڼل کېږي نو

نظر (A-1) جدول ته دا خاوره Sand، SN یا SP ګروپ ده.

$$Cu\ (Coefficient\ of\ Uniformity) \Rightarrow \frac{D_{60}}{D_{10}} = \frac{4,76}{0,6} = 7,9$$

$$Cg\ \{Coefficient\ of\ Gradation\} = \frac{(D_{30})^2}{D_{60} \cdot D_{10}} = \frac{2\bar{0}}{4,76 \cdot 0,6} = 1,7$$

دا چې $Cu > 4$ او $Cg = 1 \div 3$ پوره دي نو خاورې منفبندي د SW

ګروپ پورې اړه لري.

② AASHTO :-

نظر (5-8) جدول ته نوموړې خاوره A-1-a ګروپ پورې

اړه لري او د Sub Grade لپاره ئې مناسب والی په لاندې جدول دی.

Drainage : Exellent

Volume Chang: Almost None

Potential Frost action: Non to very slight

Stability : High

پس موږ کولای شو چې په ډېر ښه توګه تري د Subgrade لپاره ګټه واخلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د Sub Grade خاوره په لابراتوار کې آزمایښ شوي او لاندې

نتایج لاسته راغلي.

دخاورې فیصدي چې دنمبر 200 غلبیل څخه تیریږي = 65%

Liquid Limit = 45%

Plastic Limit = 35%

1- AASHTO :-

څرنګه چې دخاورې فیصدي چې د NO 200 غلبیل څخه 65% تیریږي

چې د 35% څخه زیاته ده نو نظر ( 5-8 ) جدول ته نوموړې خاوره

میده دانه خاوره یا Fine grained soil ده.

$PI = LL - PL \Rightarrow 45 - 35 = 10\%$

نظر د AASHTO د صنفبندۍ چارټ ته لرو چې:-

a = فیصدي تیرشوي No 200 غلبیل څخه د $- 35 \Rightarrow 65 - 35 = 30\%$

b = 〃 $- 15 \Rightarrow 65 - 15 = 50\%$

$C = LL - 40 \Rightarrow 45 - 40 = 5\%$

$d = PI - 10 \Rightarrow 10 - 10 = 0$

$GI = 0{,}2a + 0{,}005ac + 0{,}01bd$

$\Rightarrow GI = 0{,}2(30) + 0{,}005 \cdot 30 \cdot 5 + 0{,}01 \cdot 50 \cdot 0 \Rightarrow 6{,}75$

$GI = 6{,}75$ د خاورې $A_5(6{,}75)$ ګروپ څخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2- unified :-

څرنګه چې د NO 200 غلبیل څخه د تیروشویو موادو فیصدي د 50%

څخه زیاته ده نو مواد Fine Grained Soil ده . LL=45<50

څرنګه چې PI=10 ده نو نوموړي خاوره د ML او OL د ګروپونو څخه ده.

د (6-8) او (7-8) جدولونو څخه په استفاده نوموړي خاوره کافي

Stability نه لري نو ځکه ضعیفه ده او د Sub Grade

لپاره یې استعمال مناسب نه ده.

د سړک د بستر د طبقې مقاومت :-

د Sub Grade طبقې مقاومت د لاندې فکتورونو پورې اړه لري.

① د خاورې نوعیت Soil Type

② نسبتي رطوبت Moisture Content

③ د خاورې وچ کثافت Dry Density

④ د خاورې داخلي ساختمان Internal Structure of Soil

د خاورې د مقاومت محاسبه :-

د خاورې د مقاومت د معلوملو لپاره لاندې تستونه اجراء کیږي.

In Order to Evaluate Soil Strenght we Conduct

Follwing tests :

(c) ketabton.com: The Digital Library

① Plate Bearing Test.

② California Bearing Ratio (CBR) Test.

③ Field Density Test (Compaction Test).

او همدارنګه یو اندازه نور تستونه هم دي چې د نوموړې موخې لپاره اجرا کیږي.

پلیټ بیرنګ تست :-

Plate Bearing Test :-

ددې تست هدف د بستر د طبقې پایداري ارزیابي کول دي.

د تست د اجرا کولو طریقه :-

① د امتحان لاندې ساحه لومړی هموار وو.

② پلیټونه داسې ږدو چې لوی قطر لرونکې لاندې او کوچنی قطر لرونکې پاس ږدو.

③ د پلیټونو د پاسه جیک ږدو.

④ درې او یا څلور رفرینونه ایښودل کیږي چې نشست راوښایي.

⑤ وزن د 75cm پلیټ د پاسه عمل کوي او نشست اندازه کوو.

⑥ 3200kg وزن په 75cm پلیټ باندې عمل کوي چې $0.71 kg/cm^2$ فشار په ساحه وارد یږي.

او ددې فشار په واسطه وارد شوی نشست اندازه کوو.

⑦ عملیه تکراروو ترڅو 0.175cm په اندازه نشست په لاس راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

⑧ د فشار په مقابل کې د لاس ته راغلو قیمتونو څخه نشست گراف رسموو.

⑨ د 0,125 cm نشست په مقابل کې د فشار قیمت لولو او د بستر طبقې S.G

دعکس العمل ضریب په لاس راوړو.

$$K = \frac{P\ kg/cm^2}{0{,}125\ cm} = (kg/cm^3)$$

د کثافت او نمرتر منځ د رابطې ازمایښت:-

Moisture- Density Relation Of Soil:-

کله چې نمونه د ساحې څخه راوړل شي نو په ازاده هوا یا هم په داش کې چې د 60 c° څخه لوړه حرارت ونه لري وچیږي او بیا نمونه د No4 غلبیل څخه تیریږي. دا چې نوموړې تمسټ په څلورو مرحلو کې اجراء کیږي نو په هر ځل په ترتیب سره 3kg، 7kg، 5kg، او 11kg داسې نمونه اخستل کیږي چې د تپک کیدلو قابلیت ولري.

په Modify Method کې مواد په پنځه لایرونو کې اچول کیږي او هر لایر 56 ضربې وهو. د نمونې او قالب وزن اخستل کیږي او بیا نو دې نمونه تري د رطوبت لپاره اخلو. په نمونه 2% اوبه علاوه کوو عملیه تر سره کوو. وزن اخلو بیا 4%، 6% او 8% اوبه علاوه کوو او گورو هر ځل چې دعملیې د اجراء کولو څخه وروسته وزن گورو چې دا اوبه په کوم مقدار سره حاوي اعظمي کثافت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخاورې وچ کثافت پیدا کوو او همدارنګه دنسبتي رطوبت اندازه

چې د Optimum Moisture Content (OMC) په نوم ده پیدا کوو.

$$w = \frac{W_{wetsoil} - W_{drysoil}}{W_{drysoil}} \cdot 100 \quad ; \quad w = MC$$

$$\gamma_w = \frac{W_{soil}}{V} = \frac{W_{soil}}{1/30} = 30\, W_{soil}$$

$$\gamma_{dry} = \frac{\gamma_{wet}}{1+w}$$

د CBR ازمایښت:-

California Bearing Ratio Test:-

دموادو دکیفیت دارزیابۍ لپاره چې په S.G، S.B، B.C کې استعمالیږي.

په لومړي تست کې لازمي سامان آلات استعمالیږي:-

① استوانې قالب چې 15,2cm قطر لري او ارتفاع ئې 17,8cm ده د Collar سره.

② Spacer Disk چې 15,1cm قطر لري او ارتفاع ئې 6,14cm ده.

③ څټک دټیک کولو لپاره چې 10lb وزن او 18inch ارتفاع لري.

④ دخاورې د انبساط دمعلومولو آله چې په اوبو کې کېښودل کیږي.

⑤ دکمپرېشن ماشین دنفوذ دپستون یا Penetration Piston

سره چې قطر ئې 4,95cm ده.

د اجراء کولو طریقه:- لومړی 7kg مواد راخلو چې د NO 19

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلبیل څخه تیرشوی اوبه N04 بانذي پاتې وي رااخلو. په قالب باندي
Collar اېښودل کیږي او Spacer Disk اچول کیږي او دپاسه
پرې یو فلتر کاغذ اېښودل کیږي اوبه 5 layers کې خاوره ډکې اچول
کیږي او 65 ضربې ورته ورکوو. وروسته Collar لري کوو او بیا
ځای ئې خاوره پاکوو او Spacer Disk لري کوو او د نمونې وزن اخلو بیا
ئې کثافت یا ( Wet Unit Weight ) پیدا کوو. وروسته Mold ځلاموو
اول فلتر کاغذ پرې دپاسه ږدو. نمونه اخلو او په اوبو کې د 96 hours
لپاره ږدو. ترڅو د اوبو په واسطه ئې د حجم زیاتوالی انبساط مطالعه شي او
وروسته د 96h څخه ئې د Compression Machine یا CBR Tester
لاندې ږدو او د Penetration د عقربې مطابق د Load د عقربې
څخه د load اندازه لولو او وروسته ددې نمونې څخه لوشه برخه رااخلو
او وزن کوو ئې او نسبتي رطوبت ئې پیدا کوو. محمه داده چې CBR
د 2,5 mm او 5 mm Penetration لپاره اجراء کیږي چې لاس ته راځي.

دساحوي کثافت ازمایښت :-

Field Density Test :-

نوموړی ټیسټ په ساحه کې د خاورې د کثافت د معلومولو او همدارنګه
د ساحې د ټیک کارۍ د اندازې د معلومولو لپاره اجراء کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Apparatus :-　　　　سامان آلات :-

① قیف Sand Cone

② Plastic Jar

③ قالب د کندو لپاره چې معین قطر لري. Hole Template

④ برس د خاورې او ریګ د پاکولو لپاره.

⑤ کاچوغه او د کندو لپاره چاقو یا پیچکش.

دغه تست په لاندې توګه اجراء کیږي :-

لومړی هغه ساحه چې غواړو دغه تست پرې اجراء کړو کنټرول کیږي، بیا د تست لپاره چې په نښه کیږي. Hole Template د خټکې په مخ ایښودل کیږي او په عمود ډول سوری د 10÷15 cm پورې کیندل کیږي. له سوري څخه راوېستل شوې مواد وزن کیږي او د نسبتي رطوبت د پیدا کولو لپاره تری یو نمونه اخستل کیږي او رطوبت پیدا کیږي. همدارنګه د شګې څخه ډک Plastic Jar او مخروط چې ټول وزن او هغه د موجودې شګې وزن معلوم وي د سوري د پاسه ایښودل کیږي ترهغه چې سوری د شګې څخه ډک شي. وروسته تری د Retain مواد و فیصدي، د پاتې شوې شګې وزن او د سوري حجم د لاندې فرمولو نو په واسطه پیدا کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

LBG B&V

# AFGHANISTAN INFRASTRUCTURE REHABILITATION PROGRAM

Contract Ref. No. AIRP-07-TO4-KFP-001

Keshem - Faizabad Road Rehabilitation Project

## WORKSHEET FOR FIELD DENSITY TEST (AASHTO T-191)

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **BOQ No. / Description** | 204 /Excavation Bed Compaction | | | **Date Tested** | 24-Nov-09 | |
| **Chainage Represented** | 34+360<br>**From** | 34+400<br>**To** | LHS<br>**Side** | | Length | **40.0 m** |
| **Tested / Witnessed by:** | Kabir | Enam<br>Name & Signature of SWC Representative / LBG Representative | | | Width | 6.50 m |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| Laboratory Test No. | | **1069** | | | |
| Chainage of hole | | 34+380 | | | |
| Depth of hole, CM. | | 15.20 Cm | | | |
| Distance from Centerline (left / right) | | 4.20 m | | | |
| Layer No. | | OGL | | | |
| Cone and jar no. & diameter | | | | | |
| Wt. of wet sample from hole, g. | A | 7,080 | | | |
| Wt. of sample retained from 19 mm. s | B | | | | |
| % of Sample retained from 19 mm. si | C= 100 x (B / A) | | | | |
| Wt. of sand and jar before pouring, g. | D | 9,600 | | | |
| Wt. of sand and jar after pouring, g. | E | 3,150 | | | |
| Wt. of sand in cone and base plate, g | F (from laboratory) | 1,556 | | | |
| Wt. of sand in hole, g. | G= D - E - F | **4,894** | | | |
| Unit wt. of sand, g/cc. | H (from laboratory) | 1.448 | | | |
| Volume of hole, cc. | J= G / H | **3,380** | | | |
| Wet density , g/cc | K= A / J | **2.095** | | | |
| Container No. | | | | | |
| Wt. of wet sample + can, g. | L | | | | |
| Wt. of dry sample + can, g. | M | **By Speedy** | | | |
| Wt. of water, g. | N= L - M | **Moisture** | | | |
| Wt. of can, g. | P | **Tester** | | | |
| Wt. of dry sample, g. | Q= M - P | | | | |
| Moisture content, % | $R_0 = 100 \times (N / Q)$ | | | | |
| Average moisture content, % | $R = (R_1 + R_2) / 2$ | **9.20** | | | |
| In-situ dry density, g/cc | S= (100 x K) / (100 + R) | **1.918** | | | |
| Source of Material | Source Ref. No. | RFT-REX-034-002-0 | | | |
| Date source material was tested | | 23-Nov-09 | | | |
| Optimum moisture content, % | from laboratory | 11.56 | | | |
| Maximum dry density (pass 19mm), g | T (from laboratory) | 1.983 | | | |
| Specific gravity of coarse agg (ret. 19 | U (from laboratory) | | | | |
| Combined Max. Dry Density, g/cc | V= 100 / ((C / U) + ( (100 - C)/T )) | **1.983** | | | |
| Degree of compaction, % | W= (100 x S) / V | **96.7** | | | |
| Specification requirement, % | | 95 | | | |
| Remarks (Passed / Failed) | | Passed | | | |

**Remarks:**

**CERTIFICATION**

*It is hereby certified that the information contained in these records is accurate and all work documented herein complies with the requirements of the Contract. Any exceptions to this certification are documented as a part of this record.*

**W. H. Jung- QC Manager /**

**Samwhan Corporation**

| LBG B&V QA DOCUMENT LOG | RECEIVED BY: | NOTED BY: | SIGNATURE | QA DOCUMENT NO. | ATTACHED TO: |
|---|---|---|---|---|---|
| | Name/Signature/Date | LBG / B&V QA Supervisor | | **4Q-B26-204-006** | **RFT-EMB-QCD-006** |

***Test Worksheet / FDT***

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\text{Volume of hole} = \frac{\text{Weight of sand in hole}}{\text{Unit weight of sand}}$$

$$\text{Wet density} = \gamma_{wet} = \frac{\text{Wt. of Sample from hole}}{\text{Volume of hole}}$$

$$\text{dry Density} = \frac{\text{Wet Density}}{100 + \text{Moisture content}} \cdot 100$$

$$\text{Combined Max. dry Density} = \frac{100}{\left(\frac{\text{Retain \# sieve}}{\text{Specific gravity}}\right) + \left(\frac{\%100 - \text{Ret. \# sieve}}{\text{MDD}}\right)}$$

MDD = Maximum Dry Density.

OMC = Optimum Moisture Content.

$$\text{\% of Compaction} = \frac{\text{dry Density}}{\text{Combined Max. Dry Density}} \cdot 100\%$$

د سرک د أساسي طبقې مواد :-

Base Course Materials :-

د سرک په أساسي طبقه کې د Crushed Stone Aggregate

یا میده شویو تیګو (جغل څخه) استفاده کیږي.

① جغل :- Aggregate

جغل د سیمنټ کانکریټ او أسفالټ کانکریټ د أساسي موادو

له جملې څخه دي چې تقریباً په سلو کې 90% د جغل څخه استفاده کیږي.

جغل د مقاومت له نظره په دوه ګروپونو ویشل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ⓐ سخت جغل Hard Aggregate ⓑ نرم جغل Soft Aggregate.

سخت جغل د بزالت، گرانیت او سلیت څخه په لاس راځي او په Superior surface wearing کې تری استفاده کیږي.

دجغل خواص :- Properties of Aggregate

① مقاومت Strength

② سختي Hardness

③ سختوالی Toughness

④ کیمیاوي او فزیکي مقاومت Soundness

⑤ دجغل د دانو شکل.

د سړک جوړولو لپاره په جغل باندې آزمایښتونه :-

For Hardness:

① د څرېښ آزمایښت Abrassion Test

-2 د سولیدلو آزمایښت Attrition Test

-3 Los Angeles Abrassion Test

د ماتیدلو په مقابل کې د مقاومت لپاره:

-4 د ماتیدلو آزمایښت Curssling Test

-5 Aggregate Crushing Test

د استحکام لپاره:

-6 د ضربې آزمایښت Impact Test

For Durability:

-7 کیمیاوي او فزیکي آزمایښت Soundness test

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸- دمخصوص وزن آزمایښت Specific Gravity Test

۹- داوبو جذبولو آزمایښت Water absorption Test

۱۰- دقیر او جغل دیوځای کیدو آزمایښت

Bitumen affinity or Stripping Test

۱۱- دشکل آزمایښت Shape Test

① دتخریش آزمایښت:- Abrasion Test

دا آزمایښت د Dorry's Machine په واسطه اجراء کیږي. دا- ماشین دیو هموار دسک څخه چې قطر یې 60 cm دی جوړ شوی دی چې کولای شي دیو عمودي محور په شاو خوا دوروهي او په یوه دقیقه کې د 28÷30 دوره وهي. نمونه د (25mm X 25mm) په اندازه د 26cm په فاصله د مرکز څخه ایښودل کیږي او پرې ستینډرډ فشار چې 1250gr ده وارده- او نمونه مخکې وزن کوو، نمونې ته 500 ځلې دوران ورکوو او د ضایع شوي وزن فیصدي پیدا کوو.

$$\text{دضایع شوي وزن فیصدي} = \frac{W_2 - W_1}{W_1} \cdot 100$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Los Angeles Abrasion Test :- ②

د ازمایښت د Los Angeles Abrasion Machine په واسطه اجراء کیږي. دا ماشین یو سلنډر لري چې داخلي قطر یې 70cm او داخلي طول یې 50cm ده. د افقي محور په شاوخوا دوریږي. څو بالونه چې قطر یې 4,8cm ده او وزن یې د (390÷440)gr پورې وي په سلنډر کې اچوو او د دوران سرعت دې ماشین په یوه دقیقه کې د 30÷33 Rounds دی.

نمونه د 5÷10kg په اندازه اخلو او په داخل د سلنډر کې یې د فولادي توپونو سره یوځای اچوو او تقریباً د 500÷1000 دوره ورکوو. وروسته نمونه د سلنډر څخه راوباسو او د 1,7mm غلبیل څخه یې تیروو. هغه مواد چې د 1,7mm غلبیل څخه تیریږي وزن کوو او د Los Angeles factor ضریب په لاس راوړو.

$$\text{لاس انجلس ضریب} = \frac{\text{هغه وزن چې د 1,7mm غلبیل څخه تیریږي}}{\text{د نمونې مجموعي وزن}}$$

هغه جغل چې په سطحي طبقه د سړک کې استعمالیږي د لاس انجلس ضریب یې اعظمي حد 30% دی، په لاندینۍ طبقه کې استعمالیدونکې جغل 50% اعظمي او هغه جغل چې په ماکاډم کې استعمالیږي تر 16% پورې اعظمي حد یې جائز دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

③ دسولیدلو ازمایښت :- Attrition Test

د ازمایښت د Devals Attrition Machine په واسطه اجراء کیږي.

د ماشین دوه استوانې یې برخه څخه جوړ شوي چې داخلي قطر یې 20cm

او طول یې 34cm ده او د افقي محور په شاوخوا دورانوي او د استوانې

د افقي محور سره د دوران کولو په وخت کې 30° زاویه جوړوي.

د 4,4÷5 kg وزن په استوانه کې اچول کیږي او شپږ فولادي توپونه

چې هر یو یې 2,5 kg وزن او 4,8cm قطر لري د ډبرو سره اچول کیږي

او نوموړي استوانې د 30÷33 دوره په یوه دقیقه کې وهي. باید چې

1000 دوره ورکړل شي او نمونه د 1,7mm غلبیل څخه تیریږي او وروسته

دلاندې معادلې په واسطه د Attrition Value محاسبه کیږي.

$$\text{Attrition value} = \frac{\text{د 1,7mm غلبیل څخه تیر شوی وزن}}{\text{د نمونې مجموعي وزن}} \cdot 100\ \%$$

④ د ماتولو ازمایښت :- Compression Test

د ازمایښت د Compressive Testing Machine په واسطه اجراء

کیږي او د ډبرو فشاري مقاومت پیدا کیږي. د ډبرو نمونې د 2,54cm

سانتي متر مکعب په اندازه جوړیږي او د فشاري مقاومت ماشین په واسطه

یې مقاومت معلومیږي. د ډبرو اصغري فشاري مقاومت $700\ kg/cm^2$ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

⑤ دجغل دماتولو ازمایښت :- Aggregate Crushing Test

پدې ازمایښت کې هم دجغل دماتېدلو ضدې دفشارې قواوو په مقابل کې پیدا کیږي. ددې ازمایښت سامان آلات عبارت دي له یوې استوانې څخه چې داخلي قطر ئې 15,2cm او په لاندنۍ برخه کې یو هموار پلیټ لري، یو میله چې قطر ئې 16mm او طول ئې 60cm او کمپرېشن ماشین ده. دو جغل چې دذراتو قطر ئې 12,5mm څخه کم او د 10mm څخه زیات وي په استوانه کې په درې طبقو اچول کیږي په هره طبقه باندې 25 ضربې دفولادي میلې په واسطه واردیږي. وروسته نمونه د کمپرېشن ماشین لاندې ایښودل کیږي او 40ton قوه پرې واردیږي. وروسته نو موړی جغل د 2,36mm غلبیل څخه تېروؤ او وزن کوو ئې او دجغل دماتیدلو ضریب محاسبه کوو:-

$$\text{دجغل دماتیدلو ضریب} = \frac{\text{دجغل وزن وروسته د ازمایښت څخه}}{\text{دجغل وزن مخکې له ازمایښت څخه}} \cdot 100$$

په هره اندازه چې دا ضریب کوچنی وي په همغه اندازه جغل قوي او زیات مقاومت لري. دسطحې طبقې دجغل دماتیدلو ضریب باید د 30% او دلاندنۍ طبقې باید د 40% څخه کم وي.

⑥ دضربې ازمایښت :- Impact Test

دا ازمایښت دنمونې دسختۍ Toughness د پیدا کولو لپاره اجرا کیږي.

ددې ازمایښت لپاره د استوانه شکل ماشین او یو استوانه ای ظرف څخه چې

قطر یې 10,2cm او ارتفاع یې 5cm دې په قاعده کې یې ماشین ایښودل کیږي. د جغل نمونه په استوانه کې ایښودل کیږي او د 38cm ارتفاع څخه پرې دیوفولادي څکش پواسطه د 13,5÷14kg په اندازه وزن واردیږي. او د 15 ضربو څخه وروسته جغل راخستل کیږي او د 2,36mm غلبیل څخه تیریږي او د Impaction ضریب د جغل لپاره محاسبه کیږي.

$$\text{Impact Value} = \frac{\text{د جغل وزن چې د 2,36mm غلبیل څخه تیریږي}}{\text{د نمونې مجموعي وزن}} \cdot 100$$

په هره اندازه چې دا ضریب کموي په همغه اندازه جغل زیات مقاومت لري.

| د جغل نوعیت | د امپکشن ضریب (K) |
|---|---|
| زیات سخت جغل | $K<10\%$ |
| سخت جغل | $K=(10\div20)\%$ |
| د سرک د سطحې طبقې لپاره | $K=(20\div30)\%$ |
| د سطحې طبقې لپاره باید استعمال نه شي | $K>30\%$ |
| د سرک د لاندینۍ طبقې لپاره | $K<45\%$ |

⑦ د اوبو د جذبولو ازمایښت :- Water Absorption test

په دې ازمایښت کې د اوبو د جذبولو مقدار محاسبه کیږي.

2kg جغل په یو ظرف کې اچوو او د 24h ساعتونو لپاره په اوبو کې ایښودل کیږي او وروسته د اوبو څخه ویستل کیږي او وچ کیږي او وزن کیږي او بیا نمونه په داش کې د 24 ساعتونو لپاره د 110±5 حرارت



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې ایښودل کیږي. وروسته د 24 ساعتونو څخه نمونه د داش څخه

راباسو او وزن کوو یې. داوبو جذب فیصدي دلاندې فرمول په واسطه پیدا کوو.

$$\text{داوبو جذب فیصدي} = \frac{W_2 - W_1}{W_1} \cdot 100\ \%$$

$W_1$ - د وچ جغل وزن.

$W_2$ - د لوند جغل وزن.

⑧ د ظاهري شکل ازمایښت :- Shape Test

جغل د ظاهري شکل له مخې لاندې ډولونه لري.

a- ګرد جغل Rounded Aggregate

b- زاویه دار جغل Angular Aggregate

3- جغل چې فلاټ څخه دطول څخه کموي. Flaky Aggregate

د جغل د ذراتو شکل د Flaky Index او Elongated Index په واسطه

پیدا کیږي.

(i) Flaky Index :- دا ازمایښت د 6,33mm څخه زیات قطر

لرونکي جغل باندې اجراء کیږي. هغه جغل چې د 20mm غلبیل څخه

تیریږي اوپه 10mm غلبیل باندې پاتې کیږي نو اوسطې 15mm دی.

که 15mm په 0,6 کې ضرب کړو نو د 9mm قطر لاسته راځي. هغه ذرات چې

قطر یې د 9mm څخه کموي د Flaky په نوم یادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$FI = \text{Flaky Index} = \frac{W_1}{W_2} \cdot 100$$

$W_1$ - د Flaky ذراتو وزن په غونډ کې، $W_2$ - د نمونې مجموعي وزن.

جغل چې په سرک جوړولو کې استعمالیږي باید چې FI یې د 25%

څخه تجاوز ونه کړي. هغه جغل چې FI یې د 15% څخه کم وي ښه جغل دی.

(ii) Elongated Index :-

د ازمایښت همدې $6,33_{mm}$ د پاسه اجرا کیږي. د $20_{mm}$ څخه تیر

تیر شوي او په 10 mm باندې پاتې شوي جغل اوسط 15mm کیږي چې

15 · 1,8 = 27mm کیږي نو هغه ذرات چې د 27mm څخه یې قطر زیات

وي د Elongated په نوم یادیږي.

$$EI = \frac{W_1}{W_T} \cdot 100$$

د ښه جغل د Elongated Index (EI) د 15% څخه کم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سرک د سطحي طبقې مواد :-

## Surface Course Materials :-

① قیر :- Bituminous

قیر د هایدرو کاربن موادو مخلوط عبارت ده چې هم په طبیعي شکل په موقع جهیلونو او د تیږو په درزونو کې پیدا کیږي او هم په مصنوعي ډول د پطرولیم د تصفیې په صورت کې حاصلیږي او لاندې ترکیبي أجزا لري:-

ⓐ Asphaltienes: د کوچنۍ ذراتو څخه عبارت ده چې د Resins په نوم مادې پوښلي دي.

ⓑ Resins: قیر ته د چسپش خاصیت ورکوي.

ⓒ تیل: Oil د قیر غلظت کنټرولوي.

د قیر خواص :-

① غلظت.

② مقاومت د جوي (محیطي) شرائطو په مقابل کې.

③ د چسپش قابلیت د جغل سره.

د قیر د موادو ډولونه :-

① قیر Bitumen

② تار Tar

(c) ketabton.com: The Digital Library

قیر (Bitumen) په Petrolium Asphalt or Bitumen او طبیعي قیر (Native Asphalt) تقسیمېږي.

تاریخ پوه غلیظه ماده ده او لاندې دوه لونه (درجې) لري.

RT1 ، RT2 ، RT3 ، RT4 ، RT5

په هره اندازه چې درجه زیاتېږي په همغه اندازه قیر غلیظ کېږي.

| د قیر درجه | د استعمال ساحه |
|---|---|
| RT-1 | کم غلظت لري او Surface Pointing لپاره استعمالېږي. |
| RT-2 | په معمولي اقلیم کې د Surface Passing لپاره استعمالېږي. |
| RT-3 | د اخري برخې د جوړې پوښښ لپاره استعمالېږي. |
| RT-4 | په میکادم سړکونو کې د Base course لپاره استعمالېږي. |
| RT-5 | په ګروټ (Grouting) کې استعمالېږي. |

ایملشن قیر :- Bitumen Emulssion

کله چې قیر، اوبه او صابون د ژرندو په واسطه سره ګډ شي او په پوډر تبدیل شي. همغه مخلوط چې لاسته راځي د قیر ایملشن په نوم یادېږي.

د 40÷60% قیر 0,5÷1% صابون او نور یې اوبه دي. د دې قیر فایده دا ده چې په باران کې هم د سړک جوړولو لپاره ورڅخه استفاده کېږي، په داسې حال کې چې د عادي قیر څخه په همغه صورت کې چې باران اورېږي استفاده نه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نرم قیر :- Cutback Bitumen

کله چې خالص قیر د یو شمیر داسې موادو سره چې قابل تبخیر وي لکه کروسین او ډیزل مخلوط شي هغه قیر چې لاسته راځي د نرم قیر په نوم یادیږي. دا قیر په کمه حرارت کې ویلې کیږي او په آسانۍ سره حرکت ته سندل کیږي.

نرم قیر په لاندې درې ډولونو ویشل شوی :-

① Rapid Curing Cutback Bitumen (RC) :-

دا قیر ډیر ژر سختیږي او په عاجلو موادو کې تري استفاده کیږي. کله چې قیر ته حرارت ورکول یعنې د 360C لوړ Penetration اندازه یې د 80÷120mm پورې ده. لوړه ورکړي قیر لاندې نوعې لري :-

Rc-0 ، Rc-1 ، Rc-2 ، Rc-3 ، Rc-4 ، Rc-5

② Medium Curing Cutback Bitumen (Mc) :-

کله چې قیر د خاورو تیلو او ډیزلو (Kerosine & Diesel) سره یوځای شي هغه قیر چې لاسته راځي د هغې سره ډیر قوي چسپش پیدا کوي او لاندې درجې (نوعې) لري :-

Mc-0 ، Mc-1 ، Mc-2 ، Mc-3 ، Mc-4 ، Mc-5

③ Slow Curing Cutback Bitumen (SC) :-

کله چې تیل د خالص قیر سره په لوړه حرارت درجه کې یوځای شي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو موږ یې قیر ( SC ) لاسته راوړي. او لاندې درجې لري:-

SC-0 ، SC-1 ، SC-2 ، SC-3 ، SC-4 ، SC-5

د قیر مختلف ازمایښتونه :- Tests Of Bitumen

① د پنټریشن ازمایښت — Penetration Test

② د ارتجاعیت ازمایښت — Ductility Test

③ د غلظت ازمایښت — Viscosity Test

④ د نرمښت د نقطې ازمایښت — Softening Point Test

⑤ د مخصوصه وزن ازمایښت — Specific Gravity Test

⑥ د سوځیدلو د نقطې ازمایښت — Flash & Fire Point Test

⑦ د حرارت په اساس د قیر ضایع کیدلو ازمایښت — lose on Heating Test

⑧ د منحل کیدو ازمایښت — Sola bility Test

⑨ د اوبو د موجودیت ازمایښت — Water Content Test

⑩ د پایداری ازمایښت — Marshall Test

⑪ د چسپښ ازمایښت — Bitumen Adhesion Test

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 1- Penetration Test :-

د ازمایښت د قیر د سختۍ او نرمۍ لپاره اجراء کیږي. نوموړی تست د Penetrometer ماشین پواسطه چې ستن ئې 100gr وزن لري او یو اندازه کوونکی (Gauge) چې د ستنې د ننوتلو اندازه په قیر کې ښایي او درجه بندي ئې $\frac{1}{10}$ mm ده، اجراء کیږي. د ستنې د ننوتلو اندازه چې وزن ئې 100gr او د قیر حرارت درجه 25°C ده د 5 sec لپاره د Penetration په نوم یادیږي.

یو مقدار قیر چې 15mm ضخامت لري په یو ظرف کې اچول کیږي او بیا یو ظرف کې چې 25°C حرارت ولري د یو ساعت لپاره ایښودل کیږي. وروسته نوموړی ظرف سره یو ځای په Penetrometer کې د ستنې لاندې ایښودل کیږي او ماشین چالانیږي او د 5sec وروسته د Gauge اندازه لوستل کیږي. داعملیه دري واري تکراریږي (اسې چې هره مرتبه باید د Penetration اندازه 1cm فرق ولري. قیر نظر Penetration ته مختلفې درجې لري لکه $\frac{80}{100}$، $\frac{60}{100}$ .... یعنې هغه قیر چې Penetration ئې د 80 او 100 په منځ کې ده. په یخو مناطقو کې زیات Penetration لرونکی قیر استعمالیږي او په ګرمو مناطقو کې کم Penetration لرونکی قیر لکه $\frac{30}{40}$ استعمالیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2- د ارتجاعیت ازمایښت:- Ductility Test

د ازمایښت د سړک د قیر د ارتجاعیت لپاره پیدا کیږي ځکه چې قیر
د حرارت د تودوخې تنګ او واټن په اساس تغیر شکل کوي. که چیرې قیر د ارتجا
عیت قابلیت ونه لري نو درزونه پکې رامنځ ته کیږي.

یو مقدار قیر په یو قالب کې چې ساحه یې 10mm x 10mm وي اچوو. قالب
د قیر سره په یو ظرف کې چې اوبه یې 27°C حرارت ولري د (85÷95)min
لپاره ږدو. وروسته د قالب دیوالونه لرې کوو او قیر په مخصوص ماشین
کې ږدو تر څو په افقي ډول د 5 cm/min په سرعت کش کړي. ترهغې چې
قطع شي. د کشش فاصله د قیر د قطع کیدو په وخت کې لیکو او دا فاصله د
ارتجاعیت د ضریب څخه عبارت ده.

قیر چې په سرکسازۍ کې استعمالیږي باید چې 50cm څخه کم ارتجاعیت
ونه لري. عموماً قیر د cm (50÷100) پورې ارتجاعیت لري.

3- د قیر د غلظت ازمایښت:- Vescosity Test

د ازمایښت د Viscosity Meter په واسطه اجرا کیږي. اول قیر
په Viscosity Meter کې چې لاندینۍ قسمت کې 1cm په اندازه سوری
لري اچول کیږي. هغه قیر چې د نوموړي سوري څخه تیریږي په یو
ظرف کې چې 50 mL ظرفیت لري جمع کیږي. هغه وخت چې نوموړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظرف ډکيږي تېګل کيږي . نو د اوخت په ثانيه عبارت د قير د غلظت څخه ده .

که د قير غلظت کم وي نو کم وخت د ظرف د ډکولو لپاره پکاريږي . او که

غلظت ئې زيات وي نو زيات وخت ته ضرورت وي چې ظرف ډک کړي . دا

آزمايښت په Cutback او تار قير باندې اجراء کيږي .

4- د نرمښ د نقطې آزمايښت :- Softening Point Test

په هره اندازه چې د قير د نرمښ نقطه لوړه وي په همغه اندازه قير

زيات حرارت برداشت کولای شي . د نرمښ نقطه د Ring & Ball Test

پواسطه پيدا کيږي . دوه استوانې چې داخلي قطر ئې 1,59cm او عمق ئې

4,6cm او دوه بالز چې 0,95cm قطر لري هم پکاريږي .

قير په استوانو کې اچوو او د پاسه پرې فولادي توپونه ږدو . بيا دا په

اوبو کې ږدو او تر هغې حرارت ورکوو ترڅو د بالونو موقعيت تغير وکړي او د

ځان سره يو مقدار قير انتقال کړي د 2,54cm په فاصله . په دې صورت کې

د حرارت درجه د ترمامیټر څخه يادداشت کوو چې دا د نرمښ د نقطې څخه

ياديږي . د قير د نرمښ نقطه چې په سړک جوړولو کې استعماليږي هغه

د 35÷70°C پورې ده .

5- د مخصوص وزن آزمايښت :- Specific Gravity Test

د خالص قير مخصوص وزن د ( 1,03 ÷ 1,06 ) پورې ده او همدارنګه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹۸ Tar خصوصي وزن د ( 1,25 ÷ 1,15 ) پورې دی.

$$\text{دقیر خصوصي وزن} = \frac{\text{دقیر کثافت په } 27c \text{ کې}}{\text{داوبو کثافت په } 27c \text{ کې}} \Rightarrow \frac{\text{دقیر وزن}/\text{دقیر حجم}}{\text{داوبو وزن}/\text{داوبو حجم}} \Rightarrow$$

$$\Rightarrow \text{دقیر حجم} = \text{داوبو حجم} ;$$

$$\frac{\text{دقیر وزن}}{\text{دقیر حجم}} = \frac{\text{دقیر حجم}}{\text{داوبو وزن}} \Rightarrow \frac{\text{دقیر وزن}}{\text{داوبو وزن}}$$

$$\text{دقیر خصوصي وزن} = \frac{\text{دقیر وزن}}{\text{داوبو وزن}} = \frac{C-A}{(B-A)-(D-C)}$$

C ـ دفلاسک وزن چې په نیمه کې دقیر څخه ډک وي.

A ـ دخالي فلاسک وزن.

B ـ دفلاسک وزن چې داوبو څخه ډک وي.

D ـ دفلاسک، اوبو او قیر مجموعي وزن.

6 ـ دوېلې کیدو ازمایښت یا Flash and fire point Test

دحرارت هغه درجه چې دشمع په نږدې کولو سره یو موقتي شغله په قیر باندې تولیدیږي د (Flash point) په نوم یادیږي.

لومړی قیر په یوه پیاله کې اچوو او حرارت ورکوو او ترمامیتر په واسطه یې څارو. کله چې دحرارت درجه د 15c ته ورسیږي نو شمع دقیر سطحې ته نږدې کوو او کوم وخت چې موقتي شغله دقیر دپاسه تولیدیږي نو د حرارت درجه د ترمامیتر څخه لیکو چې دا دحرارت درجه د Flash point

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوم یادیږي. وروسته د حرارت ورکولو عملیې ته تر هغې ادامه ورکوو چې

دشمع څخه تیرلوروا خلي او د اور د 5 sec لپاره ادامه ورکړي. چې یدې

صورت کې د حرارت درجه د Fire Point ښوم یادیږي.

7- د پایداري ازمایښت د مارشال په طریقه:-

دا ازمایښت داول ځل لپاره د یو امریکائي انجینر لخوا چې Marshall

نومیده منځ ته راغی او په لاندې ډول اجراء کیږي.

a- دقیر پایداري:- Stability:- پایداري د قیر او جغل د

مخلوط د لوړ څخه عبارت ده چې د یوې ټیک شوې نمونې په واسطه چې په

60c درجې حرارت کې برداشت کوي.

b- جریان:- Flow:- د تغیر الشکل (Deformation)

څخه عبارت ده چې اعظمي لوړ په واسطه په یوه ټیک شوې نمونه کې راځي

چې 0,25cm په اندازه وي.

د قیر او جغل د مخلوط ډیزاین:-

Design of Bitumen and Aggregate Mix:-

د قیر او جغل د مخلوط د ډیزاین څخه هدف د جغل، ریګ، ګرد او

د کوونکو موادو او همدارنګه د قیر د مقدار پیدا کول دي. چې د هغوی په

مخلوط کولو یو بادوامه، پایداره او د کار د ښه قابلیت لرونکي وي چې د استعمال

(c) ketabton.com: The Digital Library

کانکریټ Asphalt or Bitumen Concrete په نوم یادیږي.

مخکې د مخلوط کولو څخه باید د جغل Gradation اجراء شي تر څو د جغل د دراتو اعظمي سایز تعین شي. په هره اندازه چې د اعظمي جغل اندازه زیاته وي په همغه اندازه مخلوط قوي وي.

د جغل اعظمي سایز نظر د طبقې ضخامت ته تعین کیږي. د مثال په ډول د Base Course لپاره د (2,5÷5cm) سایز اعظمي جغل دی.

د سطحې طبقې لپاره اعظمي سایز د جغل (1,25÷1,87cm) پورې دی.

د قیر او د جغل د مخصوصه وزن پیدا کول:-

$$B.S \Rightarrow sand = \frac{A}{V-W}$$

$$B.S = \frac{\gamma_{sand}}{\gamma_w} \Rightarrow \frac{W_s/V_s}{W_w/V_w} \Rightarrow \frac{W_s}{W_w} \Rightarrow \frac{A}{V-W}$$

A - د ریګ وزن د 24 ساعته وروسته د داش کیښودلو څخه.

V - د فلاسک حجم په mL.

W - د اوبو وزن په فلاسک کې.

د ریګ مخصوص ظاهري وزن په لاندې ډول محاسبه کوو:-

$$A.S.S = \frac{A}{(V-W)-(500-A)}$$

500 - د وچ ریګ وزن په فلاسک کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د قیرو او جغل د مخلوط د ډیزاین د مارشال په طریقه :-

## Marshall Method of Bitumen Mix Design :-

د بروس مارشال Burce Marshall په واسطه دا طریقه رامنځ ته شوه او وروسته د U.S Corps of Engineerings د ټیم په واسطه اصلاح شوه.

مخکې له دې چې د مارشال په طریقه مخلوط ډیزاین کړو لومړی باید لاندې نقاط په پام کې ونیسو :-

① د جغل سایز باید د مناسبې درجه بندۍ لرونکی وي .

② جغل باید وچ شي او په مختلفو سایزونو بیل شي .

③ د جغل او قیر مخصوصه وزن باید مخکې آزمایش شي .

د مارشال طریقه د دوو اساسي برخو څخه تشکیل ده :-

1- د خلاء او کثافت تحلیل :- Density and Voids Analysis

پدې آزمایښت کې نمونې بڼه تیک کارې کیږي او د نمونې کثافت او خلاء محاسبه کیږي او په لاندې ګرافونو کې ښودل کیږي .






د جریان او پایداری آزمایښت :- Stability and Flow Test

ددې آزمایښت لپاره د ( 17-A ) جدول څخه کولای شو د قیر نوعیت او د جغل درجه بندي تعین کړو او د قیر، ریګ، جغل ګرد او د کوچنیو موادو (Filler) مخصوصه وزن پیدا کړو. وروسته د قیر او جغل امتحاني نمونې په مختلفو مقدارونو سره یو ځای کوو.

د قیر مقدار د ( 17-8 ) جدول څخه د 2÷6% پورې یا د لاندې فرمول په واسطه ئې محاسبه کوو.

$$P = 0{,}02a + 0{,}045b + 0{,}18c$$

| Mix Number | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 |
|---|---|---|---|---|---|
| د طبقې نوعیت | lower or intermidiate | lower or intermidiate | intermidiate or surface | surface | surface |
| د ضخامت حدود | 7,5÷8,75 | 6,25÷8,75 | 5÷7,5 | 3,75÷6,25 | 2,5÷5 |
| د غلبیل سایز | د قیر شوي جغل او filler فیصدي په وزن | | | | |
| 6,25 س | 100 | – | – | – | – |
| 5,00 س | 95÷100 | 100 | – | – | – |
| 3,75 س | 80÷95 | 95÷100 | 100 | – | – |
| 2,5 س | – | – | 95÷100 | 100 | 100 |
| 1,87 س | 60÷75 | 75÷88 | – | 95÷100 | 100 |
| 1,25 س | – | – | 65÷85 | 75÷90 | 90÷100 |
| 4,75 mm | 0÷48 | – | 48÷55 | 45÷60 | 60÷75 |
| 2,00 mm | 20÷35 | – | 27÷40 | 35÷47 | 40÷55 |
| 0,42 mm | 12÷22 | 18÷28 | 9,5÷28 | 18÷32 | 20÷35 |
| 0,18 mm | 6÷16 | 6÷12 | 12÷20 | 10÷22 | 12÷22 |
| 0,075 mm | 0÷4 | 2÷6 | 4÷8 | 5÷10 | 5÷10 |
| Bitumen Content % By weight Imix | 4÷6 | 4,5÷6,5 | 4,5÷6,5 | 5÷6 | 5,5÷7,0 |



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه نمونې دې دقیق مقدار د اعظمي قیر څخه زیات او دوه نمونې دې د اعظمي قیر څخه کم قیر لرونکي تهیه کېږي. د دې نمونو دقیق تفاوت باید د 0,5% په اندازه وي. د هرې فیصدۍ لپاره درې نمونې جوړېږي یا دې مجموعاً 12 نمونې کېږي. هره نمونه باید 1,2kg وزن ولري او د 180° کې تې سره مخلوط کوو او د حرارت باید د یوساعت څخه زیات ورنه کړل شي. وروسته نمونې په قالب کې اچوو او ضربې نظر د تایر فشار ته ورکوو. مثلاً که د تایر فشار د $7kg/cm^2$ لپاره ډیزاین وي نو 35 ضربې او که د $7kg/cm^2$ څخه زیات لپاره ډیزاین وي 50 ضربې ورکوو. وروسته د ټیک کولو څخه د نمونې ارتفاع باید د "2,5 څخه کمه وي. او د مخلوط وزن د لاندې فرمول په واسطه اصلاح کېږي.

$$\text{اصلاح شوی وزن د مخلوط} = \frac{63,55mm \times \text{د نمونې استعمال شوی وزن}}{\text{د ټیک شوي نمونې ارتفاع په قالب کې}}$$

وروسته د نمونه د قالب څخه او باسو او په یو الماق کې یې بزدو او وزن یې اخلو او د اوبو داخل یې هم وزن اخستل کېږي او د نمونې جمې وزن پیدا کېږي.

$$G_r = \frac{A}{B - C}$$

Gr – جمي وزن ، A – د نمونې وزن په ازاده هوا کې.

B – د نمونې مشبوع وزن کله چې په اوبو څخه خارجېږي.

C – د نمونې وزن په اوبو کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته نمونه د اوبو څخه وېستل کیږي او دېوې ورځې لپاره په هوا کې وچیږي.

دوهم لو څخه وروسته وزن کیږي او بیا هغه اوبو کې چې د $60^{\circ}C$ حرارت لرونکې وي د $20 \div 30$ دقیقو لپاره اېښودل کیږي.

وروسته نمونه Compressive Machine لاندې اېښودل کیږي. هغه اعظمي بار چې دغې لاندې نمونه ماتیږي د پایدارۍ څخه عبارت ده. هغه وخت چې نمونه یې ماتیږي باید چې د 30min څخه زیات وخت ونه نیسي.

د خلاء حجم : Voids Volume

$$V_V = \frac{G_t - G_m}{G_t} \cdot 100$$

$G_m$ - کتلوي کثافت ، $G_t$ - د مخلوط مخصوصه وزن .

$$G_t = \frac{100}{\frac{W_1}{G_1} + \frac{W_2}{G_2} + \frac{W_3}{G_3} + \frac{W_4}{G_4}}$$

$W_1$ - د لوی دانه جغل فیصدي په مخلوط کې.

$W_2$ - د میده دانه جغل فیصدي په مخلوط کې.

$W_3$ - د گرد (Filler) فیصدي په مخلوط کې.

$W_4$ - د قیر فیصدي په مخلوط کې.

$G_1$ - د لوی دانه جغل مخصوصه وزن -

$G_2$ - د میده دانه جغل مخصوصه وزن -

(c) ketabton.com: The Digital Library

$G_3$ - د گرد ( Filler ) مخصوصه وزن.

$G_4$ - د قیر مخصوصه وزن.

د خلاء فیصدي په جدول کې په لاندې ډول حسابیږي :-

$$VMA = V_v + V_b$$

$V_v$ - د خلاء حجم ، $V_b$ - د قیر حجم

$$V_b = G_m \cdot \frac{W_4}{G_4} \quad , \quad V_{FB} = \frac{V_b}{VMA} \cdot 100$$

د خلاء فیصدي چې د قیر په واسطه ډکیږي.

د پایداري، خلاء، حجم او کثافت قیمتونه د هرې نمونې لپاره پیدا کوو.

بیا ئې اوسط په لاس راوړو چې د دې اوسط له مخې ګرافونه جوړوو. د قیر مقدار چې د جدول سره مخلوطیږي او اعظمي مقاومت Max. Stability لاس ته راوړي او اعظمي کثافت (Max. Density) لاس ته راوړي د ( OBC ) Optimum Bitumen Content په نوم یادیږي. چې د هر ورد نمونې د پورتنیو قیمتونو اوسط پیدا کوو.

$$\text{د خلاء اوسط حجم} = \frac{\text{اصغري خلاء} + \text{اعظمي خلاء}}{2} \Rightarrow \frac{6+2}{2} = 4\%$$

$$\text{Average Bitumen Content} = \frac{\text{د پایداري ګراف } O_p \text{ قیر} + \text{د قیر اپتیمم کثافت} + \text{Optimum فیصدي چې د 4٪ خلاء}}{3}$$

نظر لاندې ګرافونو ته چې په لابراتوار کې لاس ته راغلي د قیر Optimum Bitumen Content پیدا کوو:-

(c) ketabton.com: The Digital Library




نظر پورتنیو ګرافونو ته دقیر مقدار د اعظمي پایدارۍ او کثافت سره مطابقت کوي او په ترتیب سره 5,5% او 6,0% کیږي. او دقیر مقدار چې د 4% خلاء د حجم د مخلوط سره مطابقت کوي 5,8% کیږي.

$$\text{دقیر اوسط فیصدي} = \frac{5,5+6+5,8}{3} = 5,8\%$$

د جریان قیمت (Flow Value) چې د Optimum Bitumen د مقدار سره مطابقت کوي د 5,8% سره کیږي. د جریان د ګراف څخه د قیر فیصدي د 15 سره مساوي ده. څرنګه چې 16>15>8 دی نو پورتنی قیر د نوموړي سرک لپاره مناسب ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه ویل شوي ټیټ شوي نمونې د مخلوط کثافت $145\ lb/ft^3$ دی. د جغل

ریګ او ګرد فیصدي محاسبه کوو:-

| د مخلوط مواد | د موادو مقدار | مؤثر مخصوص وزن |
|---|---|---|
| جغل | 67% | 2,68 |
| ریګ | 25% | 2,62 |
| ګرد | 8% | 2,60 |
| قیر | 5% | 2,00 |

د جغل، ریګ، ګرد او قیر مجموعي فیصدي په لاندې ډول محاسبه کوو.

د جغل، ریګ او ګرد فیصدي = 100 − د قیر فیصدي ⇒ $100 - 5 = 95\%$

د جغل مقدار = $95 \cdot \frac{67}{100} = 63,65\%$

د ریګ مقدار = $95 \cdot \frac{25}{100} = 23,75\%$

د ګرد مقدار = $95 \cdot \frac{8}{100} = 7,60\%$

د قیر مقدار = $5\%$

د جغل وزن = د جغل کثافت × د مخلوط وزن فیصدي

د جغل وزن = $\frac{63,65}{100} \times 145\ lb/ft^3 = 92,29\ lb/ft^3$

د ریګ وزن = $\frac{23,75}{100} \times 145\ lb/ft^3 = 34,44\ lb/ft^3$

د ګرد وزن = $\frac{7,6}{100} \times 145\ lb/ft^3 = 11,02\ lb/ft^3$

د قیر وزن = $\frac{5}{100} \times 145\ lb/ft^3 = 7,25\ lb/ft^3$

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتمه برخه

# دسرک جوړولوطريقي

# Highway Construction Methods


آجراء کوونکي: نورالرحمن سهاک او نجيب الله

لارښــــوداستاد:ډيپلوم انجينرشريف الله شيرزاد

دډيــــپــــارټـمــنـټ آمر: دوکتورعبيدالله رحمتي


کـــــال: 1389 هجري لمريز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتمه برخه :-

## د سرک جوړولو طریقې :-

## High way Construction Methods:-

د سرک ساختمان :- High way Construction

د سرکونو د اعمار په وخت کې د ساختماني موادو په برخه کې د انجینرانو تفاوت ډیر اهمیت لري ځکه چې د عالي ارزان ساختماني موادو څخه استفاده له یو طرفه د سرکونو عمر زیاتوي، زیات استحکام ورکوي او له بله طرفه اقتصادي تامین وي. سرکونه د ساختمان له نقطه نظره لاندې نوعې لري :-

1. خاورین او جغل لرونکي سرکونه Earth and Gravel Roads
2. تحکیم شوي سرکونه Stabilized (Soil) Roads
3. میکادم سرکونه Water Bound Macadam Roads (WBM)
4. قیر شوي سرکونه Bituminous Roads
5. کانکریټي سرکونه Cement Concrete Roads

د بستر د طبقې آماده کول :- Preperation of Subgrade

ټول ساختماني عملیات چې د سرک د ساختمان څخه مخکې اجراء کیږي د سرک د بستر د جوړولو لپاره اجراء کیږي لاندې دري مرحلې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

① د ساحې پاک کاري :- Clearing of Site

د بستر طبقه کېدای شي چې په ډکولو، کیندلو او د موجوده سطحې د پاسه واقع شي. په ټولو حالاتو کې باید طبیعي موانع لکه ونې، د برق پایې، دیوالونه او نور لرې شي.

② د ساحې لیول کول :- Grading of Site

د لیول کولو په عملیه کې د مسیر پروفیل تعیینیږي، د کیندلو عمق او د ډکولو ارتفاع تعیینیږي. د ساحې ډکول او کیندل د ماشین آلاتو لکه سکریپر، ګریډر او نورو په واسطه اجراء کیږي.

③ ټینګ کول :- Compaction

د ټینګ کولو د عملیې په اساس د خاورو ذرات متراکم کیږي. دا عملیه د سړک پایداري او استحکام اعظمي کوي او د سړک د کښېناستلو امکانات کموي، د ټینګ کولو عملیه د ډکون په حالت کې د لاندینۍ طبقې، وسطي او پورتنۍ طبقې لپاره حتمي ده.

Construction of Bituminous Roads :-

د قیر سړکونو څخه په ټوله نړۍ کې استفاده کیږي ځکه چې قیر د نړۍ په ټولو بازارونو کې په اسانه لاس ته راځي او بل دا چې د قیر په واسطه د سړک جوړولو پروسه اسانه ده.

د قیر د طبقو اقسام :- Types of Bituminous Sufaces

① Prime Coat :- دا د قیر د اولې پوښښ څخه عبارت ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستقیماً د Base Course د پاسه اچول کیږي. څرنګه چې په Base Course

زیاتې خلاوې موجودې وي چې نوموړې خلاوې د Prime Coat په واسطه ډکیږي

او معمولاً د Rc-0 ، Mc-1 ، Sc-1 نوع قیر څخه استفاده کیږي.

پدې پوښښ کې قیر بغیر د جغل د مخلوط کولو څخه استعمالیږي. چې زمونږ

په پروژه کې نوموړي میکس کې (40÷45%) کیروسین او %(55÷60)

Cutback قیر څخه استفاده کیږي. او همدارنګه د دیزاین له مخې

نوموړي مواد د $(0,45 \div 2,25)\ lit/m^2$ اچول کیږي.

② Tack Coat :- د مخکینی قیر د پاسه اچول کیږي یا د کانکر

یټي سرک د پاسه اچول کیږي. او د Prime Coat په نسبت ئې قیر

غلیظ وي. پدې پوښښ کې هم قیر بغیر د مخلوط څخه استعمالیږي. زمونږ

په مورد نظر پروژه کې په دې MIX کې 70% او 30% کیروسین دي.

③ Seal Coat :- د سرک اخري طبقه ده چې د قیر او جغل د مخلوط

څخه تیاریږي او د سرک د طبقې د غیر قابل نفوذ کولو لپاره تري استفاده

کیږي. قیر سرکونه معمولاً د دوه طبقو څخه جوړیږي.

④ - Binder Course :- دا طبقه د Base Couse سره قوي چسپش

تولیدوي او یوه غیر قابل نفوذه سطحه د Wearing Course د لپاره

رامنځ ته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ⓑ - Wearing Course :- دا طبقه د Binder Course د پاسه اعماليږي

دې د Binder Course او Wearing Course طبقو ضخامت د AASHTO

